# لیلیٰ مجنون

نثري ټولګه

عبدالقدیرنادان

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول حقوق د مصنف په نوم خوندي دي


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ..................... | **لیلیٰ مجنون** |
| لیکوال | ..................... | عبدالقدیرنادانؔ<br>03154263006 |
| اشاعت | ..................... | جون 2020 م |
| کمپوزر | ..................... | نادان خټکؔ |
| پروف ریډنګ | ..................... | فضل الرحمٰن فطرتؔ |
| شمېر | ..................... | پنځۀ سوه 500 |
| بیعه | ..................... | یو سل پنځوس روپۍ 150 |
| خپَرونکي | ..................... | مرکزي اجمل خټک ادبي او ثقافتي جرګه خېراباد نوښار<br>خوږه پُښتو ادبي ټولنه نظام پور نوښار |


**د موندلو درکونه !**

- یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور ښار
- خوشحال خټک لایبریري اکوړه خټک نوښار
- شاداب بک ایجنسي کیولري روډ نوښار کینټ
- اجمل خټک ادبي ثقافتي جرګه خېر اباد نوښار
- خوږه پښتو ادبي ټولنه نظام پور
- دریاب نېټ او د وټس ګروپونه

# خپروونکي

مرکزي اجمل خټک ادبي او ثقافتي جرګه خیراباد نوښار
او
خوږه پښتو ادبي ټولنه نظامپور نوښار

# تړون

د خپـل خـدائے بخښـلي پـلار محتـرم او د خپلـې خوږې مـور بـې بـې پـهٔ نـوم چـې د چا پـهٔ دعـا ګـانو زهٔ رنګ یم۔

د ژوند پهٔ هر ګام کښې اسانیانې او خوشحالیانې را محسوسیږي۔

الله بادشـاه دې دغـه سـیورے زمـا پـهٔ سـر تـر ډېـره وخت اولري۔

امین

# ډالۍ

د خپلو ګرانو استاذانو په نوم چې زما فکر یې د حق لورې ته ګرځولے او د باطل خلاف یې جوړ کړے دے.

د خپلو ګرانو ملګریو په نوم چې د ژوند په هر تیندک کښې راسره جوړې جوړې ګرځي په ما یې یواځېوالے پېرزو نه شي زما احساس یې خوندور کړے.

هرې هغه تېپې په نوم چې زمونږ د پښتنې خاورې سره اړه لري هغه که یو شاعر، سندرغاړے، خبر رسان، غرض څوک هم دے چې د خپلې خاورې سره مینه لري.

لنډه دا چې د پښتون قوم د باتورۍ او د ننګ نه ډکو د تاریخ پاڼو په نوم ویاړم چې پښتون یم ټولو پښتنو وروڼو خویندو.

# زېرے

زۀ خپل خور ورارۀ عبدالخالق او خپل خور خوريۀ عبدالغفار ته د دې خبرې زېرےورکوم چې هغوئ بۀ ماته اکثر ويل چې کاکا جي يا ماما جي تاسو کتاب ولې نۀ ثاپ کوئ ؟ کۀ تاسو چرته کتاب ثاپ کړو نو مينوال بۀ مو د نړۍ پۀ ګوټ ګوټ کښې زيات شي هر سړے بۀ ستاسو د نوم او ادبي خدماتو ښخه اشنا شي!

ما بۀ ورته زر لنډه کړه چې يۀ بچيو ستاسو دا ارمان بۀ هم پوره شي د خېره سره کۀ ژوند وفا اوکړه زۀ پۀ خپله هم دغه ارمان لرم نو مسکي غوندې بۀ شول.

نن وربانډې د مينې او خلوص نه ډک د لېلىٰ مجنون قيصه کتاب زېرے کوم.

**عبدالقدير نادانؔ**

# لېلیٰ او مجنون يو تاثر

رومـاني قيصـې د مشـرقي ادب يـو مضـبوط روايـت دے ادب کښـې يې يوه لويه برخه ده او بيا پۀ تېـره تېـره پـۀ پښـتون وطن کښې د خپلې خاورې د روماني قيصو لکه يوسف خـان شېربانو، ادم خان درخـانۍ، مـومن خـان شـيرينۍ، شـېرعـالم مېمونۍ، فتح خان رابعه ګله او داسې نورې او ورسره ورسره د نورو وطنونو ځنې قيصې ډېرې مشـهورې دي چې پـۀ هغـې کښـې فرهـاد شـيرينۍ، هيـر رانجـا، سسـي پنـو، سـوني ماهيوال او لېلیٰ مجنون د ذکر وړ دي.

ښاغلي نـادان ختـک هـم د دغـه لـړۍ نـه يـوه کـړۍ راجـدا کړې ده د لېلیٰ مجنون قيصه کومه چې د ډېر پخوا نه پۀ ډېرو ژبـو کښـې منظومـه ده خـو زمـا پـۀ لاس چـې کـوم معلومـات راغلي يا لګېدلي هغه تاسو سره شريکوم ښاغلي دغه قيصه پۀ خپل ليـک د نظم نه راوچته کړې او د نثر برخه يې ګرځولې ده، لېلیٰ مجنون دواړه د عربـو اوسـېدونکي وو لېلیٰ د نجـد ښـار او مجنـون د بنـو عـامر ښـار اوسـېدونکے ؤ د لېلـیٰ او مجنون قيصه چې څنګه د ډېرو ژبو د ادب د نظم برخـه ده هـم دغه رنګ وخت پۀ وخت د نړۍ بېلا بېلو هېوادونو د لېلـیٰ او مجنون قيصه پۀ فلم کښـې هـم عکـس بنـد کـړې ده کومـه

چې د نړۍ لوئ هېواد هندوستان چې د بولي ووډ په نوم لويه فلم انډسټري لري په ملايالم (Malayalam) ژبه کښې په کال نولس سوه دوه شپېتۀ کښې شايع کړے وۀ د هغې نه پس پاکستان فلم انډسټري چې د لولي ووډ په نوم پېژندلے شي په سندهۍ ژبه کښې په کال نولس سوه يو اوويا کښې شايع کړي او په اردو ژبه کښې يې په کال نولس سوه څلور اوويا کښې شايع کړي چې ليکوال يې سيف الدين سيف ؤ هند ورباندې په هندۍ ژبه کښې په کال نولس سوه شپږ اوويا کښې فلم جوړ کړے او شايع کړے دے د دغه فلم ليکوالان دا درې ښاغلي ابرار علوي، انجانه روېل او هرنام سنګهـ روېل دي ـ دغه رنګ پُښتو ژبه کښې ورباندې هم فلم جوړ شوے او شايع شوے دے۔

ښاغلي نادان خټک د مجنون د مينې د لېونتوب حال د هغۀ د غرونو راغونو سره مل شوے ژوند د هغۀ د چاک چاک ګرېوان خورې ورې تنې د ماشومانو په لاسو د هغۀ په امروزه سنګسارېدل يواځې نۀ دي بيان کړي بلکې د هغۀ ژوند او د هغۀ سره تړلے چاپېرچل چې په ځان کښې يوه معمه وه په هنري انداز بيان کړے دے په تېره تېره د مجنون پلار که څۀ هم د خپل وخت باچا ؤ ولې د لېلیٰ پلار چې د يوې قبيلې سردار ؤ د وخت باچا ورته بې وسه ؤ د مجنون د پاره د رشتې نۀ کېدلو بې وسي بل خوا د لېلیٰ د لورې چې کومه وفا وشوه

د هغې مثال هم ناممکنه ده که د ګړدې نړۍ په تاریخ کښې چرته وموندلے شي چې د باچا د ځوي سره يې وادۀ اوشي خو ولې لېلیٰ خو د مجنون په مينه کښې دومره ورانده تلي وه چې يو مجنون ورته ښکارېدۀ د نورې نړۍ د شتون تصور د هغې په ذهن او زړۀ کښې نۀ ؤ او په دغه اساس يې خپل خاوند ځان ته نيزدې هم پرې نۀ ښو ښېلا زندګي يې خوښه کړه د خاوند نه يې طلاق واخستو او دا عهد خو هغې ډېر پخوا کړے ؤ چې که ژوند د مجنون تر څنګ وي نو ډېره ښه ده که نۀ وي بيا دې هېڅ هم نۀ وي خو ولې د چاپېرچل ظلم او بربريت کله دا غواړي چې دوه مئين سره يو ځائے شي او هم دغه د يو ځائے کېدو ارمان دواړو په زړۀ يوړو او د فاني نړۍ نه دواړو په يوه ورځ مخه ښه وکړه

دا د نادان خټک په زړۀ پورې هڅه ده بايد د ليکوال دې هڅې ته په درنه سترګه اوکورو خصوصاً دا زيار او کاوش يې د ستاينې وړ دے ډېر داد ورته وايم خپلې خبرې راغونډول غواړم په دې هيله چې نادان خټک په راتلونکي کښې پښتو ادب ته داسې نورې ډېرې په زړۀ پورې ملغرې ډالۍ کړي

پۀ پښتنه او کليواله مينه

فضل الرحمن فطرت

نېټه :۰۸ اپرېل ۲۰۲۰

# لیلیٰ او مجنون

مونږ ته د ماشومتوب وختونه یاد دي چې نیا نیکونو به اکثر خپلو ماشومانو ته پخوانۍ مشهورې واقعې اورولې او مونږ ټول ماشومان بۀ ورته ډېر پۀ غور و فکر سره ناست وو دغه قیصې بـه دومره خوندورې وې چې پـۀ اورېدو بـه یې د تنګېدو سوال نـۀ پېدا کېدو ورسـره ورسـره بـه ماشـومان مستفید کېدل هم او بهر فضول ګرځېدو نـه بـۀ هم بـچ وو مطلب دا لړۍ د شروع نه زمونږ پۀ چاپېرچل کښې را روانه ده اوس هم چې کله کله د چـا نـه پخـوانۍ واقعې اورو نـو د ځـان سره مو د ماشوموالي ژوند ته بېر ته بیایي

محترم نادان ختـک صـېب د لېلیٰ او مجنـون قیصـه د نظم نه نثر ته په خپل هنر او د بلهـا مطالعې نـه پس راواړولـه کۀ نظم هر څومره زمونږ د ادب یوه زړۀ راښکونکي لاره ده خو نثر هم د نظم نـه کـم نـۀ دے خـو پـه شـرط د دې چې انصـاف ورسره اوشي

نـادان ختـک صـیب زمـا تـر پامـه پـوره پـوره انصـاف کـړے دے او دا قیصـه یې پـه داسې ډول نثر تـه سپارلي ده چې لوسـتونکے او اورېـدونکے یقینـاً د تېـر شـوي وخت سـره اشـنا کـوي او هغـه تېـر وختونـه ورتـه لکـه د ائېنـې مـخ تـه اودروي دا قیصه کۀ یو طرف ته یو روماني رنګ لري خو بـل طرف د بلها معاشرتي خبرو نه مونږ خبروي

زۀ مطمئن یم چې لوستونکي بۀ ترې بلها خوندونه هم واخلـي او ورسـره ورسـره بـۀ تـرې مسـتفید هـم شـي د نـادان ختـک صـیب د دغـې هڅـې بلهـا سـتاینه کـوم او تـرې امیـد ساتم چې خپل قدم به هم دغسې برقرار ساتي

مینه او درنښت

بلال فدا سرحدي

زیارت کاکاصیب نوښار

نېټه :۱۵ اپریل ۲۰۲۰

## لیلیٰ مجنون او د ښاغلي نادان صېب زيار

د ښاغلي عبدالقدير نادان صېب پۀ دې ليکلي شوي نثري قيصه يا داستان "لېلیٰ مجنون "باندې د څۀ تبصرې ليکلو اګاهو پۀ قيصه يا داستان لړه تبصره ليکل ضروري ګڼم۔

د قيصې اهميت و افاديت

ماته ياد شي چې پخوا بۀ خلقو د ريډيو خپرونې ډېرې اوريدلې ځکه چې ټيليويژن خو وروستو راغلے او بيا دغه ميډيم ته رسايي هم لږه ګرانه وه

د ريډيو نه بۀ پۀ پښتو ژبه کښې خلقو بدلې او داستانونه پۀ ډېره مينه اوريدل

دا بدلې او داستان بۀ کله کله پۀ اوچت سرونو کښې او د خوند د پاره بۀ ورسره د ټپو لنډو اضافي اهنګ هم ډېره مزه کوله

پۀ دغه داستانونو کښې د دوست د خدائے، لېلیٰ مجنون، شيرين فرهاد، ادم خان درخانۍ، يوسف خان

شېربانو، رامداد خان، مومن خان شيرينې ، شېر عالم مېمونې پۀ منظوم شکل کښې اورولے شولې
د دې داستانونو اهميت پۀ دې هم ؤ او شته چې هغه بې (سيواده ) خلق چا چې دا قيصې يا داستانونه پۀ کتابونو کښې نۀ شو لوستلے هغوئ بۀ پۀ ريډيو اوريدلې او د غه شان پۀ قيصه کښې بۀ ورته د تاريخي واقعاتو يا شخصياتو پۀ حواله معلومات ترلاسه کېدل

د دې پرته خلقو بۀ د اساطيرو نه ماخذ شوي د دېوانو، پيريانو، ښاپېرو، او اژدهاګانو قيصې هم اوريدلې ماشومانو بۀ دا قيصې د خپلو نياګانو ميانډو ترورپانو خويانډو نه اوريدې

د ريډيو نه هم اګاهو چې خلق بۀ پۀ سفر چرته بلې ښاريې ته لاړل پۀ لويو ښاريو کښې بۀ د قيصو ويونکي خپل قيصه ګو وګړي وو چې پۀ لږ ډېر اجرت بۀ يې خلقو ته قيصې کولې
دا قيصې بۀ دومره ځلې پۀ تکرار سره وئيلې شوې چې خلقو بۀ پکښې د خوند رنګ زياتولو د پاره خپلې ټوټکې هم ور اچولې

دا قيصې نن هم مونږ پۀ مختلفو طريقو پۀ لړ بدل او مترقي شکل کښې وينو او لولو او پۀ رسنۍ وينو
د کله نه چې انسان پيدا دے دا قيصه ورسره ترلې را روانه ده
قيصه اصل کښې د ماضي يوه ائينه ده چې هر وګړي ته پکښې د تېرې زمانې شبيهات او تصوراتي مخلوقات ليدل کيږي

د قيصې اهميت او ارزښت پۀ خپل ځائے ډېر مستحکم دے او دا يو قسم د يوې خبرې پۀ ذهن کښې د کښېنولو بهترينه او اسانه فارموله ده
ځينې استاذان شاګردانو ته د سبق د زده کولو د پاره اول شروع يا ابتدا د قيصې نه کوي

دغه شان ځينې د ټيليويژن نطاقان او د اخبار کالم نويسان هم د قيصې نه ابتدا کوي او بيا پکښې خپله د مطلب خبره پۀ هنر داخله کړي لکه سنګه چې ما مخکښې ليکلي چې قيصه د انسان د ژوند سره ترلې ريښه ده

د قيصې ويونکي مهارت او هنر د خلقو توجۀ او پام لرنه پۀ ډېره اسانه او موثره طريقه د ځان طرف ته راګرځوي

د پوهنتون یوه استاذه ډاکټر میکسین التیریو، چې د ښوونځي ستره تجربه کاره لیکچرره ده وايي چې د علم انتقال په اسانه طریقه د قیصې په وسیله زده کونکیو ته ورکولے کیږي

هغه وايي چې د مختلفو قومونو او خلقو تر مینځه د رابطې جوړولو مضبوطه ذریعه قیصه ګویي ده
هغه دا هم وايي چې قیصه ګویۍ هغه وخت وجود لرلو چې لا مونږ د علم خیالاتو او محسوساتو لیکل پئیل کړي نۀ وو

موصوفه وايي چې د قیصو پۀ ذریعه مونږ د خلقو هغه تنده پۀ اسانه ماتولے شو کومه چې قدرت پۀ انساني مزاج کښې اچولي ده

بروس کارموډي، چې پۀ کینیډا کښې یو ریټائرډ ماهر تعلیم دے او اوس یو پروفېشنل قیصه ګو دے وايي چې د قیصې نورو فایدو سره دا فایده هم ډېره ده چې د ماشومانو پۀ ذهن کښې تنقیدي سوچ پیدا کوي او د یو شي پۀ حقله د مضبوط تصور بنیاد جوړوي او د هغوئ د زدکړې، قابلیت او پوهه سیوا کیږي تجسس پې را بیداروي

دغـه شـان ډېـرو لويـو اسـتاذانو د قيصـې او قيصـه ګويۍ تهذيبي، تمدني، علمي او کلتوري اړخونه بيـان کـړي دي.

لېلیٰ مجنون

دا قيصـــه د عربـــۍ ژبـــې داســـتان دے چـــې د دې کردارونه هم اصلي او حقيقي دي او پۀ تاريخي توګـه منلي شوي دي

چي لېلیٰ او مجنون د دوو شخصياتو د عشق قيصه ده

چي مختلفو ليکوالو پۀ تحرير کښې راوستلي ده او پـۀ سـوونو کـالو د زړي او تـاريخي قيصـې اهميـت ورتـه حاصـل دے

پۀ عربۍ کښې دا قيصه پۀ وړومبي ځل چا ليکلي ده د دې صحيح معلومات نشته البته د عربۍ نه فارسۍ ژبې ته دا قيصه په اول ځل رودکي را اړولي ده

بيـا وروسـتې نظـامي ګنجـوي پـۀ فارسـۍ ژبـه کښـې اوليکله چې مقبوليت او د مشهورتيا اوازه يې پۀ ټولـه نـړۍ کښې خـوره شـوه وئيـل کيـږي چـي د زرګونو پۀ تعداد کښـې خلقو پۀ مختلفو ژبـو کښـې ژبـاړلي ده چـي زمـونږ پښـتو ژبـه پرې هم غني ده

پۀ دې ټولو ليکلې شوو قيصو کښې تر نـن پـورې چـې کوم ارزښت او مقبوليت کومې قيصې ته حاصل دے هغه هم

دغه د نظامي ګنجوي لېلیٰ مجنون قيصې ته حاصل د ے
اوس بهٔ راشو د دې قيصې د کردارونو تاريخ ته چې پهٔ دې ډول دي-

لېلیٰ

چي پهٔ خليج عرب د نجد د علاقې د يو ستر سردار عامر لور وه او پهٔ عربۍ کښې ورته لېلیٰ العامرية نوم اخيستل کېږي د دې د پيدايش نېټه ۲۸ هجري کال يادېږي دا د عربۍ ژبې شاعره وه او د قبيله هوازن سره يې تعلق ؤ دا د مجنون يعني قيس بن الملوح محبوبه او معشوقه وه د دوئ د ژوند زمانه د خليفه مروان بن الحکم و عبدالملك بن مروان زمانه يادېږي

مجنون

مجنون د قيس بن الملوح د کردار نوم د ے چې د لېلیٰ مجنون د قيصې هيرو د ے د ے پهٔ سن (۲۴ هـ / ۶۴۵م ) کښې ځېګيدلے ؤ او پهٔ نجد سعودي عربستان کښې يې ژوند کوو قيس هم د خلافت مروان بن الحکم و عبدالملك بن مروان پهٔ زمانهٔ کښې ژوندے ؤ قيس ته د مجنون لقب پهٔ لېلیٰ عامريه سره د بې کچه ميني پهٔ حواله ورکړل شوے دے قيس او لېلیٰ لهٔ وړوکوالي نه ملګري وو او قيس ورسره لهٔ وړوکوالي نه مينه کوله د لېلیٰ سره د بې کچه ميني له کبله هغه خپل کور پرېښودو لکه د ليوني بهٔ پهٔ کليو باندې

او دشتو مېرو کښې ګرځېدو هغه د شام، نجد او د حجاز په سیمو او دشتونو کښې هم در په در ګرځیدلے وۀ.

د ښاغلي نادان د لیلیٰ مجنون قیصه

ښاغلے عبدالقدیر نادان صېب زۀ د ډېرې مودې نه پېژنم دغه دوه درې کاله خو بۀ کیږي چې دے زما سره په وټس ایپ ګروپونو کښې ملګرے دے بالخصوص د کاروان پښتو ادبي جرګه ان لاین کښې د د کاوشونه او کارګردګي ما پۀ خپله لیدلي ده دا ډېر زیات زیار باسونکے انسان دے

د پۀ پښتو کښې ایم اے کړے دے نن صبا د نېټ پۀ ذریعه زۀ د نادان صیب د لیکنو او شعري و نثري پنګو نه استفاده حاصلوم

د نادان صیب د استقامت او ادب ته پۀ (سنجیدګي سره وخت ورکول ) د دي خبرې غمازي کوي چې موصوف د ادب سره څومره کمټیډ انسان دے

نادان صېب د خېراباد اوسیدونکے دے دا پښتون خوا ته د داخلیدو اولنۍ دروازه ده هغه دروازه ده چې د پنجاب نه پرې پښتون خوا ته سړے داخلیږي دا هغه تاریخي ځایونه دي چې دلته کښې ډېرو بادشاهانو دمې کړي او د دوی قافلې د دې سیند نه پورې وتلي دي دا هغه د پښتون خوا اخیري برید دے پۀ کومه چې ډېر لښکرونه د دې ځایه تېر شوي او د هند پۀ زمکه خواره شوي دي

نادان صیب د ډېرو ادیبانو شاعرانو سره ملګرتیا لري زما دا یقین دے چې د هغوئ نه به موصوف کافي زدکړې کړي وي ما ته چې دوئ کوم مواد رالېږلي دي په هغې د څۀ لیکلو وړاندې ما دوئ ته دا مشوره ورکړه چې ته په داسې داستانو او قیصو ځان مۀ ستړے کوه کومې چې د دې نه مخکښې په زرګاۇ ځله لیکلي شوي دي یا ژباړلي شوي دي

د لېلیٰ مجنون قیصه هم ښاغلي ملګري چې د کومې منظومې قیصي نه په اسان نثر کښې بشپړ کړي ده

زۀ کۀ دا اووایم او یا د دې خبرې اعتراف اوکړم نو بې ځایه بۀ نۀ وي چې موصوف ته په نثر او انشاء ښه عبور او قدرت حاصل دے ډېر اسان روان خوږ نثري کوشش یې کړې دے

د لفظونه تراکیب د استعارې استعمال او د انشاء رغونه یې قابل قدر او قابل تعریف ده

زۀ په یقین سره وایم چې د ښاغلي نثري ښېلګه بۀ په را روان یا ائنده وخت کښې ان شاء الله ډېر ښۀ ځائے اوموموي

د نادان صیب دا نثري کاوش (د لیلې مجنون ) قیصه ما لږه ډېره اولوستله اګر چې پۀ قیصه کښې افسانوي رنګ او مبالغاتي اضافت او بدلون شته خو دا چونکې د حقیقي قیصې پۀ کثرت سره د لیکونکیو خپل خپل افسانوي

رنګونه او اضافي توتې دي چې پکښې د خوند رنګ زياتولو د پاره اچولي شوي دي

زۀ د نادان صيب حوصلې ته د قدر پۀ نظر ګورم چې ښاغلي دا قيصه پۀ روانه پښتو پۀ ښکلي نثري پيرايه کښې ليکلې ده چې د دې څومره ستاينه اوشي هغه بۀ کمه وي

زما خواهش ډېر ؤ چې زۀ د ناذان صيب پۀ دې داستان يا نثري کاوش باندې څۀ ډېر څۀ اوليکم خو نن صبا د کرونا د وبايي مرض لۀ کبله هر سړے مورچه زن شوے دے او د ګنګسې خپخه پرې خوره شوي ده پۀ داسې حالاتو کښې بلکل هيڅ شي ته زړۀ نۀ کيږي نو زۀ بۀ پۀ دې باندې اکتفا اوکړم

د لانورو ډېرو برياو پۀ هيله

چې ان شاءالله د نادان صيب را روان تخليقات بۀ لۀ دې نه هم زيات غوره وي او زمونږ د پښتو ادب پۀ جولۍ کښې بۀ ګټوره اضافه اوکړي

پۀ ډېر زيات درنښت

فېروز افريدے

پېښور ښار

نېټه :۱۸ اپريل ۲۰۲۰

# نادان خټک یو تکړه لیکوال

مونږ چې واړهٔ وو نو اکثر د ماسخوتن بهٔ راته دادا او بیبې مې ( دواړه دې مولا سره د خاورو اوبخښې ) قیصې کولې دغه قیصې بهٔ ډیرې زوروري وې او یوه یوه قیصه بهٔ پهٔ هفتو هفتو نهٔ ختمېده .هره ورځ مو ترې نوي نوي خوندونه اخستل .

چې کله مونږ کره ریډیو راغلو نو ریډیو د "دادا "او "بیبې "د قیصو قیصه ختمه کړه او هره شپه بهٔ پهٔ ریډیو تر ناوخته ډرامې ته غوږ وو او خوند بهٔ مو ترې نه اخستو .

دغه رنګ بیا ټیپ ریکارډ دور شروع شو نو پهٔ ټیپ ریکارډ بهٔ مو د قیصو کېستې اوریدې څهٔ ښکلي او بې غمه وختونه وو د قیصو دغه دور هم لاړو او بیا ټی وی او انټرنیټ خو پهٔ هر څهٔ اوبهٔ واړولې

کومې قیصې چې بهٔ پهٔ سلو او پنځوسو پاڼو کښې لیکلے کېدې هغه کهٔ بهٔ نظمي وي او کهٔ نثری خو ولې دغه د اوږدو قیصو دور هم لاړو او افسانې او ناولټ د قیصې ځائے او مقام اونیولو او پهٔ یوه یا یوه نیمه صفحه کښې یې ځائے کړل

دغه رنګ ناول هم خپل یو شمېر مینه وال پیدا

کړل او قيصه يې په ناول بدله کړه اګر چې د قيصې په افاديت کښې څه کمے رانغلو خو ولې وخت ډير په تيزۍ سره بدل شو او هر سړے په منډه دے چا سره هم وخت نۀ وي نو په دې وجه هم قيصه قيصۍ ته لاړه بله دا چې د قيصو ليکوالانو هم قيصه ليکل پرېښودل او مختصرې افسانې يې ليکل شروع کړې

د لوستونکو د ذوق د کمي په وجه د ليکوالانو دې طرف ته توجۀ کمه شوه څه د وخت او حالاتو په وجه هم قيصه ليکل بند شول ځکه چې د هر وخت خپلې غوښتنې وي

پښتو ژبه کښې هم بلها قيصې جوړې کړے شوي ليکلے شوي او روايت شوي دي د دغو قيصو فهرست هم ښۀ کافی اوږد دے په دغه قيصو بيا ډير بحثونه هم شوي چې دا قيصې يا قيصۍ زمونږ د دې سيمې دي کۀ نه؟ د نورو سيمو ژباړلے شوي سينه په سينه مونږ ته رارسيدلي دي دا ځان له يو بيل بحث دے د دې نه به راتير شو

عبدالقدير نادان کوم چې د نادان ختک په نوم ادبي نړۍ کښې شهرت لري نظم او نثر دواړه ليکي ډير ښۀ يې ليکي ځيني ځينې ليکوالان اديبان شاعران په يوصنف کښې شهرت او نوم پيدا کړي نظم يا نثر کښې خو ولې ځينې ليکوالان داسې وي چې هغه کۀ نظم ليکي هم يې ښۀ ليکي او کۀ نثر ليکي نو هم يې په ليکلو پوهيږی د ليک حق يې

ادا کړې دغه رنګ زموږ دا ځوان او تعلیم یافته لیکوال عبدالقدیر نادان خټک هم نهٔ یواځې بسیار نویس دے بلکې لیکل ډیر ښهٔ کوي د لیک پهٔ هنر هم پوهه دے او د لیک حق یې هم تر ځهٔ حده پوره کړے دے زهٔ یې د تېرو څو کالو راهسې پېژنم او لیکونه یې ګورم چې پهٔ تول هم پوره دي او د وخت ترجمان هم دي

لیلیٰ مجنون قیصه یې د نظم نه نثر ته را اړولې او ډیر پهٔ تفصیل سره یې پهٔ عامه او ساده ژبه کښې لیکلې د ځینو ادیبانو پهٔ شان یې مشکل الفاظ نهٔ دي ځائے کړي بلکې کوشش یې کړے دے چې عام اولس پرې پهٔ اسانه پوهه شي پهٔ دې موضوع د نړۍ پهٔ بېلا بېلو ژبو ډرامې، فلمونه جوړ کړے شوي دي کهٔ نوي کهول نهٔ وي کتلي نهٔ بهٔ یې وی کتلي ګنې د تیر وخت خلقو بهٔ د لیلیٰ مجنون او نورو روماني قیصو فلمونه په درځنونو ځلې کتلي وي

اګرچې دا وخت داسې دے چې زموږ نوے کهول د دې قیصو نه ناخبره دے اؤ کهٔ خبر هم وي نو صرف دومره چې لیلیٰ مجنون هم یوه قیصه وه تېره شوې ده ځکه چې زموږ ځوان او نوي کهول سره نهٔ څو وخت شته چې کتابونه اوګوری او نهٔ زاړهٔ فلمونه او ډرامې د کتاب څو بهٔ ترې هډو طمع نه کوو او کهٔ دفلم یا ډرامې خبره اوکړو نو هغه ګوري څو هغه د خپلې خوښې او د نن سبا وخت سره چې مطابقت

لري خو کۀ ورته د تاریخی فلمونو یا ډرامو خبره اوکړې نو وايي بۀ
"پرېږده دا د زړې زمانې فلمونه "
د عبدالقدیر نادان خټک دا هڅه "لېلیٰ مجنون "یو ښۀ کاوش دے اؤ د ستائلو وړ ځکه دے چې دا وخت هسې هم د قیصو لیکوالان پۀ نشت حساب دی
دا صنف رو رو په ختمېدو دے په داسې وخت کښې ځوان لیکوال عبدالقدیر نادان خټک دا قیصه خپل نوي نسل ته ډالۍ کړه چې دې کتاب سره به نۀ یوازې نوے نسل د دې قیصې نه مستفید شی بلکې نوي نسل سره به زمونږ فولکلوری او حماثی ادب سره مینه هم پیدا شي او د تاریخ نه بۀ هم باخبره شي
د عبدالقدیر نادان د لیک خپل یو اسلوب دے ډیر خواری کښې ځوان دے د قلم زور یې زیات دے مولا دې یې د قلم زور نور هم تاند کړي چې پښتو ادب ته ښکلی ښکلی او علمي خبرېنې رامخې ته کړی او یا یې وژباړي او پښتو پرې لاسمسوره کړي

مصورقریشي
ورځپانه وحدت پېښور
۱۹ اپریل ۲۰۲۰

# خپلې خبرې

قدرمندو لوستونکېو !ستاسو په لاسو کښې چې کوم د لېلیٰ مجنون د قیصې نثري ټولګے دے وجه دا ده چې زۀ پېښو ته تلے ؤم چې هلته زما پرچه وه خو لۀ بده مرغه د پرچې شروعات د ورځې یوې بجې نه وو ما خو وئیل چې بس نهه بجې بۀ پرچه شروع شي د وختـه بۀ کلي تـه راستون شم وخت را باندې نۀ تېرېدلو ګرځېدم را ګرځېدم ستړے ستومان وم خـۀ ګورم چې پـۀ یـو اخبـار فـروش مـې نظـر پرېوتـو د لېلیٰ مجنون د قیصې ایکې یواځې کتاب ورسره پروت ؤ ما ورتـه د بیعې اووئیل هغۀ پنځوس روپۍ یادې کړلې ما زر جېب ته لاس کړو کتاب مې ترې تر لاسه کړو۔

سالم کتـاب پـۀ شعري بڼه پـئيلے شـوے ؤ زړۀ کښـې مې اووئیل چې ګورم لیکوال یې څوک دے نو د بناغلي مـلا نعمـت اللّٰه د نوښـار نـوم پرې لـیکلے شـوے ؤ بیـا ور کښــې د

سمون او لټون چارې ډاکټر زبير حسرت صېب تر سره کړي وې چې لږ نور څېړ شوم نو دا کتاب (لېلیٰ مجنون قيصه) د پښتو ادبي مرکز پېښور د سپورې لاندې چاپ ؤ د دې کتاب طباعت ښاغلي مکرم خان صېب کړے دے چې اول چاپ يې په مارچ ۲۰۱۵ کښې شوے دے د کمپوزنګ او ډيزائننګ چارې ور کښې ارټ پوائنټ پېښور ادا کړي دي دا کتاب ټول ۷۲ صفحات لري چې په ۱۰۰۰ ټوکو کښې مارکيټ ته حواله کړے شوے دے هم په دې کتاب د زېب ارټ پبلشرز محله جنګي پېښور ښار مهر لګېدلے دے۔

ښاغلي ملا نعمت الله صېب د دې کتاب ټرون د سکندر خان خټک په نوم کړے وايي "په اول ځل يې د لېلیٰ مجنون قيصه په ادبي انداز او شاعرانه پېرايه کښې د عربۍ نه پښتو ته منظوم کړې ده په ګور يې نور شه "بيا يې د سيد ابو علي شاه سپېڅلي روح ته ډالۍ کړے ولې چې هغه يو اولسي شاعر سره سره ډېرې روماني قيصې منظوم کړي او ژباړلي دي دغه رنګ د مذهبي کتابونو منظوم کاوش يې هم د ستاينې وړ دے د دې کتاب شروعات د حمد پاک نه شوي دي بيا ورپسې د لېلیٰ مجنون منظوم قيصه ده۔

زما خيال را اوچت شو چې زۀ کۀ دا نثر ته اوژباړم نو د ډېرو خلقو تنده به پرې ماته شي عرض ۲۰۲۰/۳/۴ مې قلم اوچت کړو شروع مې اوکړه کله يوه پانړۀ کله دوه کله درې

پاڼي کله شپږ کله څومره کله څومره پاڼي په یکم اپریل مې راټوله کړه بیا مې په لیک لاس پورې کړو چې لس شل ورځې اولګېدلې.

زه ډېر زیات مشکور یم د فضل الرحمٰن فطرتؔ لالا، بلال فدا سرحدي صیب، فېروز افریدي لالا چې زما په دې معمولي کاوش یې ما ته داد را کولو سره سره ور باندې د خپلو خیالاتو اظهار هم کړے ډېرې د کار خبرې یې کړې بیا په تېره تېره د مصور قریشي لالا هم جهان مننه چې دا داستان یې په (اول برخه نېټې :۴، ۵، ۶، ۷، دویمه برخه نېټې :۱۵، ۱۶، ۱۷ او ۱۸ ) اتو برخو کښې د وحدت ورځپاڼې نه څاپ او خور کړو بیا یې ور باندې ګټوره څرګندونه کړې ده جهان مننه دویه یې یم په قیصې زه څه لیکل نه غواړم ولې د مشرانو ملغلرې ملغلرې خبرې پرې لیک دي دومره ده چې دا قیصه په ډېرو خوبېو سره سره ډېرې خامۍ هم لري ولې پوره خو یو د الله کتاب دے دا قیصه ما کوشش کړے چې لوستونکي پرې په اسانه طریقه پوهه کړم بس زه نور اوس په دې خبرو اکتفا کوم د نېکو هیلو سره مو د کتاب لوستو ته راغواړم.

ستاسو د دعاګانو مختاج

عبدالقدیر نادان

۲۳ اپریل ۲۰۲۰

# لیلیٰ مجنون

د عربو په ملک کښې یو بادشاه ملوح نومې اوسېدلو چې په غریبانانو عاجزانو ډېر مهربان ؤ الله رب العزت ورته ډېر څۀ ورکړي وو تر دې پورې وئیلے کیږي چې د خاتم طایي د ښېوه ګرې نه هم ورته ؤ په هرې ډډې یې د شهرت زوږ خپور ؤ ډېر خوشحاله او سوکاله بادشاه ؤ خو د د نر اولاد په کور کښې نۀ ؤ ډېر په ذکر، فکر، عبادت، صدقات، په منت او په عاجزۍ به یې د الله درګاه کښې لاسونه نیولي وو الله پاک پرې هم مهربانه شو یو ځوے یې ورته ورکړو بادشاه سلامت نور هم په خېرات او صدقات لاس پورې کړل چې هېڅ څوک ترې نه بې برخې پاتې نۀ شول داسې جشن یې جوړ کړلو چې زمانه ورته حېرانه او ګوته په خوله پاتې شوه بیا یې په دغه ځوي قېس نامه کښښودله د عربو د دستور مطابق دایي مور ته حواله کړلے شو د چم ګاونډ او د کلي خلک به یې تماشې ته راتلل ډېر ښکلے ماشوم ؤ قېس چې کله د شپږو کالو شو نو بادشاه سلامت اخوند نومې یو ځیرک، پوهه، نېک سیرت ملا سره سبق ته کښېنولو بادشاه سلامت ملا اخوند صېب ته اووئیل چې ما درته قېس سپارلے په لږ وخت کښې یې خپل مرام ته ورسوه

ملا اخوند ورته بسم الله زده کړه د قیس همځولو او د ګاونډ خلقو قیس او د هغه پلار ته ډیرې مبارکیانې ورکولې پهٔ دغه مدرسه کښې ګڼ شمېر جینکۍ او امانې ډیر هلکان وو چې لګیا وو سبقونه بهٔ یې وئیل هلکان بئیل ناست وو جینکۍ بئیلې ناستې وې خپل خپل سبقونه یې یادول جینکۍ هم د ځوارلسمې سپوږمۍ نه کمې نهٔ وې سم ځلیدونکي غمي وو داسې لګېدلې لکه د جنت حورې چې وي سبقونه یادولے کېدے شو پهٔ دغه ټولو جینکېو کښې یوه اثرناکه لیلیٰ نومې پېغلوکۍ هم وه چې د بادشاه لور وه دنګه ونه، غټې غټې سترګې او نرۍ ملا یې درلوده پهٔ ښایست کښې تر ټولو اول وه ډیر نا وخته پورې بهٔ یې سبقونه یادول چرته چې د مینې نغمې غږیږي هلته څوک علم نهٔ شي زده کولے پهٔ ورځو کښې یوه ورځ د سحر نمر چې څنګه ښکاره شو جینکۍ او هلکان د مدرسې پهٔ لور روان شول همځولو جینکېو او همځولو هلکانو بهٔ نازو و نخرې، ټوقې ټقالې یو بل سره کولې څنګه چې مدرسې ته اورسېدل پهٔ خپل خپل ځائے کښېنولے شو او سبق شروع شو لیلیٰ هم د همځولو مینځ کښې ناسته وه مجنون هم د همځولو مینځ کښې ناست ؤ وئیلے کیږي چې یو ځل قیس نبغ د جینکېو ټولکي ته لاړو سمدستي پرې د لیلیٰ سترګې خوږې شوې د یو بل زړونو کښې یې د مینې لارې وېستلې د دواړو پهٔ سینه کښې د

میني غشي ښخ شول د غم په وینو یې ککړ کړل چا به په قلمونو سره په تختېو سبق لیکلو او چا به په یادو یادلو استاد هم ورسره ناست ؤ د قهره تک سور ؤ څوک یې په څپېړو اووهل او څوک یې په چوکو اووهل تاسو ولې سبق نۀ یادوئ؟ کله چې د مجنون وار راغلو نو غلے پاتې شو استاد پرې د وهلو شروع اوکړه

لېلىٰ بۀ د خاروني په شان چغې وهستلې په ژړا بۀ شوه هر چا بۀ د مدرسې سبق یادولو لېلىٰ مجنون بۀ د مینې سبق یاده ؤ کله چې نمر پرېوتو نو استاد جینکۍ او هلکان مدرسې څخه چوټي کړل صبا چې بیا نمر ښکاره شو د ستورو ځلا ډوبه شوه بیا هلکان او جینکۍ مدرسې ته په نخرو نازونو اورسیدل او ټولګي ټولګي کښېناستل خلقو بۀ د مدرسې سبق یادولو او لېلىٰ مجنون بۀ د مینې خبرې کولې هر چا ته بۀ ملا اخوند صېب وار په وار سبق ښودلو چې د مجنون وار راغلو ملا صېب ورته اووئیل چې راشه تا ته هم سبق اوښایم چا چې زر سبق یاد کړو هغه بۀ وختي پرېږدم ملا صېب وې قېسه دا "الف "دے دښمن دې خاورې شه ورپسې بیا "ب "ده چې لاندې یو تورے لرې ځان ښۀ پوهه کړه قېس استاد ته اووئیل چې دا تۀ څۀ لګیا یې ستا خبرې خو زما عقل نۀ اخلي تۀ زما د یار ونې ته "الف "وایې "ب "

بس کړه لرې بۀ نۀ ځې تۀ خو زما د يار تعريف نه هلهٔ و خبر نۀ يې "ت "توبه اوباسه بيا داسې خبرې او نۀ کړې "ث "ثواب دے ته زما خبرې اوره "ج "جمال د معشوقو ستايه د دلبره زما د يار رخسار ته لږ ځير شه نورې زياتې خبرې بۀ راسره نۀ کوې ملاؔ اخوند چې قيس نه دا خبرې واريدې نو هک پک شو

يۀ مجنونه دا څۀ وايې؟ دا پۀ تا څۀ اوشول؟ ليونے شوې !کۀ نا ما پورې لۀ ډيرې مستیۓ هسې ملنډې کوې ستا ويره او شرم جوړ زما ځينې ختم شو زما وينا دربانديې هيڅ اثر نۀ کوي ليلیٰ هم د مينې پۀ انکار سوي لوي وه خو لۀ حيا نه يې هيڅ نۀ شو وئيلے پۀ ګرد ښار کښې يې د مينې زوږ خپور شور قيس د مجنون پۀ نوم بانديې ياد کړے شو د بادشاهیۓ ميراث يې خپل ؤ فقيري يې قبوله کړه قيس بۀ د ليلیٰ مخ نه سترګې نۀ اړولې رورو رورو خلقو مدرسې پۀ کور محلت کړلې ولې چې ليلیٰ مور ته بۀ ګيلې راتللې او دغه د مينې خبره ډيره لرې پورې خپره شوه چې ليلیٰ او مجنون پۀ مدرسې کښې پۀ يو بل عاشقان شوي ليلیٰ مور ته د يو خوا بل خوا پيغورونه ورکولے کيدے شو ارو مرو ستغې خبرې بۀ ورته کيدلې د يو خوا بل خوا تهمتونه خپارۀ شو

د چم ګاونډ خلق راغلل وئيل يې يۀ خورې !ستا لور خو پۀ قيس باندې سر او مال تالاترهه کړل ټول خلق سبقونه

یادوي او دا غلـي غلـي مجنـون تـه اشـارې کـوي یـه خـورې د خپلې لور په وخت علاج اوکړئ هڅې نه شرمندګۍ ته دې جوړه نۀ کړي مور زر لېلیٰ ته غږ کړو یه لورې !زما خوا ته راشه د سترګو نه یې غټې غټې اوښکې بهېدلې یه لورې ! ډېره دې شرمنده کړم زۀ بۀ اوس د اولس سره څنګه سترګې لګوم خلق راته وایي ستا لور مئینه شوي ده د هر چا د خلې نه دا خبرې اورم دوباره چې بیا د مدرسې پۀ لور لاړه نۀ شې زما دا خبره پۀ قوي ډول یاده لره پۀ ځان هم د حیا څادر واچوه پۀ مونږ هم اوس خو د خېره پېغله یې داسې ولې کوې؟ لېلیٰ مور ته وایې مورې مینه څۀ شے دے دغه نوم خو ما لۀ تا څخه پۀ اول ځل واوریدلو مینه بنیادم دے کۀ حېوان دے تا د چا نه دا خبره واوریده مورې زۀ خو دې فکر کښې ډوبه کړم

مور نوره لېلیٰ پۀ سترکړه خو د لېلیٰ پۀ زړۀ کښې د مینې وور بل ؤ بل طرف ته د قېس غریب د زړۀ دنیا هم ورانه شوه لۀ ډېره غمه یې کچکول پۀ غاړه کړو د یار کوڅو کښې خېرونه غواړي دغه هر څه د یار مینې د پاره کوي چې ګنې پۀ دیدن بۀ مور شي سر وهلے بر وهلے بۀ چې چرته د مدرسې پۀ لورې راغلو نو هغه ځائے بۀ یې شاړ اولیدو هسې بۀ د مدرسې نه تاو راتاو شو خو زړۀ ته بۀ یې سکون مېلاو نۀ شو د هجران سختو کړنو ورته زړۀ کباب کړے ؤ د غم سېلابونو

سره مخ ؤ مدام بۀ يې دغه ذکر د ځان سره کولو چې يا پاکه ربه دا هم هغه ګلزار دے چې زما جانان پکښې د ناز قدمونه اخستي دي هغه وخت څومره زر تېر شو دلته ما او جانان د مېنې خبرې کړي هک پک بۀ پاتې شو د فقيرۍ جامې يې پۀ تن کړې ځان يې د يار د غمه لېونے کړو د کلي هلکان بۀ ورپسې وو پۀ کاڼو لوټو بۀ يې ويښتلو پۀ غونډه وجود کښې يې روغ ځائے نۀ ؤ يوه ورځ يې همسا پۀ لاس کړه ځان يې ړوند کړو نېغ يې د لېلیٰ کور ته پۀ ډغرو ډغرو ځان اورسوو د لېلیٰ د کور پۀ خوا کښې يوه کنده وه مجنون ورته ځان پۀ ضد پرېباسلو اوچتې چغې يې جوړې کړې يه خلقه قيامت راباندې راغلو څوک الله د پاره زما مرسته اوکړئ الله دې بل هېڅوک زما غوندې نۀ کړي سترګې مې ړندې دي هلې راشئ د وروولۍ پۀ خاطر مې کندې څخه را اوباسئ

لېلیٰ چې د مجنون اواز واورېدو نو د غم نه يې زړۀ سورے سورے شو چغې يې کړې چې خدايه تۀ د دې فقير پۀ حال رحم اوکړې لېلیٰ مور ته بهانه جوړوي چې بهر پۀ لاره کښې ډېر شور دے څوک ړوند فقير کندې ته پرېوتلے بير ته نۀ شي راختے پۀ غنو کښې راګېر دے مورې کۀ تاسو اجازت راکوئ نو زۀ بۀ يې رابهر کړم ډوډۍ بۀ ورته هم ورکړم مور ورته اووئيل هله لورې اسره مۀ کوه ورځه ډوډۍ هم درسره

واخله لېلیٰ د مور نه اجازت واخستو پۀ منډه منډه د يار خوا ته راغله ورته يې وئيل يۀ فقيره !سترګې را واړه شابه ديدن اوکړه لاس مې نيسه د کندې نه بهر راخيژه ستا د پاره ډېره پۀ تندۍ راغلم څۀ پۀ بهانو او پۀ چل ول مې تا ته ځان را اورسوو دواړو د يوبل ښۀ ديدن اوکړو

لکه ګلونه چې د سحر پۀ پرخې تازه او خندان شي پۀ ديدن باندې يې ځانونه ماړۀ کړل بيا ترې نه لېلیٰ اجازت واخستو او د ننه لاړه بله ورځ بيا مجنون جامې بدلې کړې د يو فقير پۀ شکل کښې راغلو د لېلیٰ کوڅه کښې يې اواز اوکړو چې خدائے مو اوبخښه خېر راوړئ د لوږې څخه بدحال يم لۀ ډېرې مودې نه د تږکې ډوډۍ پۀ ارمان يم ډېر بې وس يم پۀ سترګو ړوند يم زۀ نن داسې کوڅې ته راغلے يم چې ځوک مې د پيژندګلو نشته خو طمع لرم چې زۀ به د خېره خالي لاس نۀ ځم اخر مسلماني ده لېلیٰ چې د مجنون د راتلو نه خبر شي نو ديدن د پاره څۀ لاړ جوړوي زر ځي د خپلې مور خوا کښې پۀ ادب اودرې ورته وايې پۀ کوڅه کښې څوک فقير دے الله مو اوبخښه څۀ راکړئ نعرې وهي چې خېر ورته ورکړو هسې نه تکليف شي او ښېرې راته او نۀ کړي مور يې وې هله لورې پۀ منډه ورشه بيا زر راځه لېلیٰ ډېر پۀ ادب سره د خپل يار مخکښې اودرېده د مېنې ډک سلامونه او هرکلے

يې ورته اووې مجنون لېلیٰ ته وايي ستا ديدن پسې ډېر کړېږم په رورو مې وجود ويلي کيږي ستا ديدن پسې ړوند شوم نورې د تعجب خبرې نۀ کړم خپلې سختې بۀ نۀ درښايم د بېلتون د لاسه مې زړۀ ارې ارې شو پۀ تن مې د غم طوفان لګيا دے ډېرې ناترسه لوبې کوي يو مخيز شغار دے

يۀ مجنونه دا واخله ډوډۍ سره غبرګ ديدن اوکړه زر رخصتېږه هسې نه چې سپے رقيب دې چرته او نۀ ويني ژاړه مه الله بۀ خېر کړي روانه شوه مور يې ځان سره لګيا وه چې لېلیٰ خو ډېر ډيل واخستو فقير سره څۀ خبرې کوې !لېلیٰ کور ته ځنګېدلې راغله او پۀ خپل ځائے کښې ځان ته غلې کښېناسته دا خبره کور پۀ خپره شوه چې مجنون د لېلیٰ کور ته هره ورځ د فقيرۍ پۀ جامو کښې ځي راځي او پۀ دغه ډول لۀ يارۍ څخه مزه اخلي د لېلیٰ ټول خپلوان راغلل او پلار سره يې ورته خبره اوچېړله چې تۀ لا د هاتي پۀ غوږ کښې اودۀ يې لور دې کومې کانې کوي مونږ خو پۀ دنيا کښې د خلقو د خندا شو هر څوک راپورې ملنډې کوي دلته ستا کور ته هره ورځ مجنون راځي د لېلیٰ هم ورسره د يارۍ مزے کلک دے مجنون بند کړه چې بيا را نۀ شي ګنې نو لوئ فسات بۀ ترې را ولاړ شي

مجنون چې پۀ حال پوهـه شـو دستي د نجد بيابان پۀ لـوري لاړو هلتـه کښـې مېشـتـه شـو کـور و کلے يـې بيخـي پرېښودل خپلې لېلیٰ پسې بۀ ډېر ژړېدلو بادشاهي يې د سره ارتاو کړه د مجنون پلار چې کله پوهه شو چې مجنون خو لاړو بيابـان کښـې د ېـره شـو لـۀ هـر چـا ځنې بئيـل شـو د ځنګـل حېوانانو سره بلد شو نو سر يې پۀ ځنګون کښېـود ډېر غمژن شو ځان سره يې کرل رېبل چې چرتـه بۀ طبيب پېدا کړم چې زما د خوار مجنون علاج اوکړي يا ربـه زۀ چرتـه لاړ شم چا تـه ژړا فرياد اوکړم چا سره بۀ د مجنون د رنځ دارو پېدا کړم د ګل پۀ رنګ ځوے را نـه بې درکـه شـو خدايـه پاکـه تۀ يـې پۀ خپل فضل سره روغ کړې خلقو د مجنون پلار تـه پتـه ورکـړه چې پۀ فلاني ځائ کښې وخت تېروي مونږ پۀ هغه ځائے کښـې پۀ خپله ليـدلے خوشي بيابـان کښـې مېشـتـه دے د مېنې پۀ وور سوے لوغړن دے پلار يې بيا د اللّٰه پاک پۀ درګاه کښـې لاس اوچت کړل وئيل يې چې يـا خدايـه تـا تـه پۀ اخلاص سره منت کوم چې زما ورک ځوے زۀ بيا مـومم زمـا د سترګو تـور واپس راولې اللّٰه پاک ته يې ډېر منت زاري کـول پۀ لار روان ؤ لـۀ ډېر مـزل نـه پسـت ناڅـاپي پۀ يـوه کنـده داخـل شـو چـې د کوزېدلو لار ورته نۀ وه څۀ پۀ خوارو خوارو ورته کوز شـو اريـز مريز ؤ چې هلتـه يـې مجنـون پۀ يـو غـار کښـې بيـا مونـد چـې خوار و زار پۀ خاورو دوړو لـېت پـېت خېرن پـروت ؤ مجنـون تـه

چې کله پلار نزدو شو نو ورته يې وئيلې يۀ ځويه !پورته اوګوره سر اوچت کړه مجنون ورته زر اوئيل ماته د مېنې بوئ راځي ته لېلىٰ يې او کۀ بل څوک يې؟ چې زما غريب تر ځايه راغلې پلار ورته پۀ غمزده اواز اووې يۀ ځويه !زۀ خو ستا پلار يم ستا يار لېلىٰ پۀ تا پسې رالېږلے يم ستا پۀ جدايۍ کښې وخت تېروي ستا د راتلو لارې ته ګوري چې مجنون سراسر پۀ حال خبر شو نو پۀ خندا شو سپين مخ يې لکه سپوږمۍ اوچمکېدو څو څو واره يې پلار ته اووئيل ستا لۀ تن نه زار شم ستا نه صدقه شم بابا جانه چې تاسو زما د حال پوښتنه اوکړه ستاسو دا احسان بۀ زما نه کله هم هېر نۀ شي ما خو وئيل چې ګنې زۀ لاړم پۀ مېرو سر شوم خپل پردي بۀ زما د حال پوښتته نۀ کوي پالنه خو لرې خبره ده ښه شوه چې پلاره تاسو زما پۀ غم ځان خبر کړو تۀ زما د رنځ علاج اوګرځېدې غټ زېر دې د وادۀ راباندې اوکړو زما د زړۀ دنيا مو ودانه کړه زر تر زره مې خپل يار ته رسوئ لاس نيولے مې د يار ورته بوځئ پلار څۀ پۀ چل ول مجنون د ځان سره را روان کړو

هغه ښکلے د ګلاب ګل يې کور ته راوستو کله چې خپلې مور اوليدو نو لاس يې اوچت کړل وئيل يې يا خدايه ستا د قدرتونو نه زار شم ستا هر يو کار د خېر وي بيا يې زر ښکل کړو او د لمبېدلو يې ورته اووې ځان يې صفا کړو رنګ

پهٔ رنګ جامې بهٔ ورته ورکولے کېدې د مور مینه پرې کله ماتېده پلار مجنون ته اووې چې یهٔ زما ځویه !کهٔ ته زما نصیحت واورې یهٔ د پوهې خاونده !بس نورې عبث خبرې پرېدوه ځان هوښیار کړه ځان اوپېژنه د مینې نوم بیا پهٔ خوله مهٔ اخله معشوقې کله چا موندلي ځویه د مینې نور بحث ته حاجت نشته معشوقې خو پهٔ دوکو ملکونه رنګوي یهٔ زما ځویه قلار شه د کم عقلو خلقو سره پهٔ لار مهٔ ځه ښو خلقو سره ناسته پاسته جوړه کړه ځان سیالو سره سیال کړه د باشاهانو خوئ اختیار کړه یه زما ځویه د الله او د رسول روئ اومنه چې نور د لېلیٰ نه قلار شه چرته د باشاه لور خوښه کړه هغه ځائے کښې بهٔ ستا رشته اوکړم الله ما ته ډېر څهٔ راکړي پهٔ مال دولت کښې څوک زما برابر نشته دغه فضول کارونه پرېدوه ستا پهٔ شان بهٔ څوک بې سکونه بې ارامه نهٔ وي

مجنون وئیلې زما پلاره خوش خصلت اوسې ستاسو دښمنان دې تاسو ته مختورن وي پهٔ ستاسو دې هېڅ کله غلبه نهٔ شي پهٔ زړهٔ کښې مې د مینې وور بلیږي زما د صبر مجال نشته وجود مې غمونو تک تور کړو ستاسو د ښهٔ خدمت کولو ډېر شکر ګزار یم مینې مې اوس هغه د زړهٔ زور اوبه کړے هېڅ ګرم نهٔ یم زما نصیب خراب دے د بخت پهٔ کار کښې د تقدیر چرته چلېدے شي زهٔ خو وایم چې د یار د

کوڅې خاورې مې پۀ سر دلې وے څو پورې چې زما وجود کښې ساه وي تر هغې پورې بۀ زۀ د یار پۀ مینه خپل ژوند تېروم زۀ د جانان مینې نه هېڅ کله ستونېدے نۀ شم څو پورې چې زۀ ژوندے یم ما ته کۀ ناصحان هسې نصحیت کوي نو زما پرې څۀ؟ پۀ سمندر کښې د څاڅکي اوبو څۀ پته نۀ لګي ما د یار مینه د مور پیو کښې بیا مونده ما د مینې سعادت د مور پۀ غېږه کښې تر لاسه کړے زما پالنه د مینې پۀ ځانګو کښې شوي ما ته مینه پۀ الله هو کښې مېلاو ده پۀ پلاره زۀ هم پۀ دغه رښتوني مینې باندې نازېږم کۀ څوک مې تن زرې زرې کړي یا مې شرمخان پۀ بیابان کښې پوټے پوټے کړي بیا هم د یار مینې نه پښا کېږم نا ! الله بۀ داسې زما پۀ نصیب کښې لیکلي وي پلار یې چې پۀ حال خبر شو چې مجنون خو واقعي مئین شوے د جانان پۀ غم کښې کړېږي او رنځېږي بله ورځ چې بیا رڼا خپره شوه مرغېو پۀ چمن کښې چغار جوړ کړو چې نمر را اوچت شو اوځلېدو

د مجنون پلار ځان سره کرل رېبل چې دستي د لیلیٰ پلار ته د عربو ټولو باشاهانو غټې او درنې جرګې سره روان شو چې کله دوي د لیلیٰ کورته ورنزدې شو ور یې ورته اوټکولو او یو طرف ته پناه کښېناستل ټولو خپل کښې پخه صلاح اوکړه چې څو پورې د مجنون کار او نۀ شي تر هغې بۀ

دلته نه څو ګېر چاپېره يې رنګ په رنګ دسترخوانونه اوغوړول په دېکښې د لېلیٰ پلار هم راغلو د سلام اچولو نه پست ډېر په ادب دوي سره کښېناستو مجنون پلار ورته ويلې يۀ د اوچتې قبيلې سرداره زۀ تاسو تۀ په جرګه راغلے يم ستاسو په کور کښې يوه نېک عمله لور ده چې په صورت او سيرت دواړو ښه پوره ده غواړم چې تاسو يې ما ته څوي د پاره راکړي چې خپل شو زما څوے ورپسې ډېر بد حال دے پۀ خپله يې وينئ چې ستاسو لور پسې د بيابان لېونے شو د مينې شدت او هجران نرے خځنے کړو لکه يو چا پۀ لوښي کښې سپېلنے اچولے وي او سوځوي يې کۀ ستاسو د لور زلفې پۀ لاسو ورغلې نو د زړۀ دنيا بۀ يې ودانه شي د ناموس ستورے بۀ يې روښان شي چرته کۀ د ښاپېرۍ پۀ ديدن موړ شي کېدلے شي چې روغ شي عقل يې کار را واخلي څو پورې چې ستا لور ورسره وادۀ او نۀ شي دغه شان بۀ پۀ بيابان خوښ وي تا ته بۀ ډېر څۀ درکړم کۀ غلامان غواړي پۀ زرګونو بۀ درته درکړم زما د سر تاج يې ستا بۀ ډېر عزت اوکړم ټوله دنيا بۀ درته پۀ معيار ښکته کړم ستا رعب بۀ سېوا کړم دښمنان بۀ درته پۀ وور اونيسم

مجنون د پلار خبره چې پوره شوه نو د لېلیٰ پلار ساه تازه کړه وئيل يې چې سراسر ستا پۀ مطلب پوهه شوم سر

لوړے اوسې چې زما دې دومره اکرام او تن اېښودنه اوکړه ستا د قسمت ستورے دې هم دغسې ځلاند او باکمال وي د زمانې تول شتمن درته سر ټيټې شه ستاسو دې مدام پۀ دوئ لاس بر وي ستاسو نه زما سر او مال قربان دے تۀ چې هر څۀ وايې زما ترې نه هېڅ سر غړونه نشته خو نۀ شم کولے ستا ځوے خو لېونے دے وخت پۀ وخت ځان ته نوي نوي کندې غارونه لټوي بيخي پۀ مړو يې حسابوم بادشاه سلامت ستاسو خبره پۀ ګل بدله خو د لېونو سره کورونه نۀ کيږي زۀ کۀ چرته لېوني ته خپله لور ورکړم نو د پردو خپلو د خندا بۀ شم زما لور دې ستاسو نه قربان وي دا نۀ چې زما لور ستاسو نه يا ستاسو د ځوي نه غوره ده د مجنون پلار ډېر پۀ عاجزۍ سره عرض کوي يۀ سردار محترم !د مجنون نه بل زيات پوهه هډو شته نه کۀ د لېلىٰ پۀ ديدن موړ شي نو ټول لېونتوب بۀ ترې نه لاړ شي کۀ ستاسو باور نۀ راځي نو اوس بۀ يې ستاسو خدمت کښې حاضر کړم تاسو او د ټولګي خلقو ته بۀ اندازه اولګي چې ايا د کښې د لېونتوب څۀ اثرات شته

دے خو د لېلىٰ د غمه پۀ ځان خاورې مړې پلار زر مجنون ته غږ کړو چې يۀ ځويه راشه چې کاکا جي دې اووينې مجنون ډېر پۀ ادب راغلو سلام يې اوکړو ډېر پۀ عزت سره مخامخ شو د ناستې ورته اووئيلے شو کښېناستو پۀ دېکښې

چرته نه د لېلیٰ سپے راغلو مجنون پۀ منډه پاسېدو زر يې را اونيسو خپلې غېږې ته يې اوچت کړو ډېر يې ښکل کړو پۀ سترګو کښې يې غټې غټې اوښکې راغلې دا يې اووې کاشکې زۀ د جانان سپے وے ناڅاپه د خپل ځائ نه پاسېدو د بيابان پۀ لور يې منډه کړه جرګه ناکامه را ستون شوه د مجنون پلار نوره پۀ زړۀ د صبر پاهه کښېوده د لېلیٰ پلار هغه ځائے پاتې شو مجنون شکسته حال بيابان ته تېښته اوکړه

څوک چې د مجنون غوندې د يار پۀ مينه خوښ شي نور د دنيا هر څۀ ورځنې هېر شي وئيلے کيږي چې کله مجنون بيابان ته لاړو نو د غره د پاسه يې ځان ته څپر ساز کړو څپر د غنو او ازغو نه ډک ؤ د خدائے قدرت ته ګوره چې ګېر چاپېره يې ژورې ژورې کندې درلودې چې نور د ساه ځيزونه بۀ هلته لۀ تندې نه مړۀ کېدل د زقوم ترخې ونې پکښې ولاړې وې ځنګلي هاتيان پکښې ډېر زيات ؤ غټ غټ خړتمونه يې درلودل پۀ مجنون بۀ کالوسر سپرلے ؤ د مېوې ونه خو پکښې بيخي موندلے کېدے نۀ شوه کۀ دوزخيانو دغه يخ دوزخ لېدلے وے نو ټول بۀ پکښې خوشحاله ناست وو پۀ دغه نجد نومې غر کښې مجنون د مينې لېونې درد ناک وختونه تېرول د خيال دنيا کښې لېلیٰ هم ورسره وه پۀ دغه سودا کښې ککړ ناست ؤ شپه او ورځ يې نۀ پېژندله پلار

ورپسې هم لۀ ډېره غمه سودايي شو د الله پۀ در کښې يې لاس اوچت کړل چې يا کريمه ربه تۀ بيا مجنون پۀ فضل سم سړے کړې زما خوار لېونے مجنون زما خوا ته راولې يۀ ربه ستا پۀ در کښې هېڅ کمے نشته ستا پۀ در کښې مې لاسونه نيولي خلقو ورته وئيل ته هسې وير کوې هر ځائ کښې مجنون او مجنون ستا نور څۀ کار هم شته کۀ بس مجنون ته دې کار وئيلے ورشه پۀ فلانې ځائ کښې يو بزرګ ناست دے ډېر ښکلے نېک سيرته او باکمال يادېږي شپه او ورځ د الله ذکر کوي ستا د پاره بۀ د رب نه سوال اوکړي مطلب بۀ دې تر سره شي تۀ ورته مجنون بوځه ګوره کۀ الله پاک يې هغه ساعت روغ کړي د مجنون پلار چې پۀ راز پوهه شو نو پۀ مجنون پسې نېغ بيابان ته لاړو پۀ لاره يې منډې ترړې وهلې ستړے ستومان اخر تر هغه ځايه (غره) ته او رسېدو چرته چې مجنون مېشته ؤ پۀ دغه غره کښې بۀ کله لاندې کوز کله بۀ سر ته را اوختو زرې زرې ؤ الله پاک ته يې بيا ناځاپه لاسونه اوچت کړل يا ربه زما ځوئ بۀ چرته وي کوم ځائے بۀ يې بيا مومم زما د سترګو تور زما دزړۀ ټکور بۀ پۀ کومې کندې کښې پروت وي پۀ کوم غار بۀ دننه وتلے وي پۀ ازغو ازغو يې ټول وجود زخمي ؤ کاشکې زۀ يوځل ستا ديدن اوکړم ما نه بۀ خپل دردونه هېر شي ځان سره بۀ دې راولم

ناڅاپه یې یو غار په نظر راغلو رو رو د هغه غار خولې ته اورسېدو چې دننه یې اوکتل نو مجنون پکښې سر په ځنګون ناست ؤ لوئ لوئ نوکونه جاخې جاخې وېښته څه په بد حال ؤ پلار یې زر دننه وراغلو په غېږ کښې یې را اوچت کړو په لوئ اواز یې ورته اوژل هائ افسوس یه بچیه سترګې پورته کړه زهٔ ستا پلار یم په تا پسې راغلے یم تا پسې خو ما ټول بیابان چاڼ کړو یهٔ ځویه لږ خدائے د پاره زما بد حال ته اوګوره سترګې مې اوښکې اوښکې دي ټول ګرېوان مې لوند دے زهٔ بهٔ د چا چا خولې بندوم ستا د غم درد لهٔ وجې رټلے کېږم شابه زړګیه ما سره روان شه چې د یو نېک بزرګ بنده په خوله درته د الله نه دعا اوکړم چې روغ صحت بیامومې د هغه سوال قبلیږي ویلے شي چې هغه د الله پاک ډېر عبادت کوونکے دے تهٔ بهٔ سم دم شې بیا بهٔ درته ځوک لېونے نهٔ وایي

مجنون د خپل پلار په مقصد پوهه شو چې څهٔ د پاره راغلے نو پهٔ ادب سره یې ترې معافي اوغوښته زر یې د خپل پلار د پښو تلي چپې کړل د الله شکر یې وېستو وئیل یې کاشکې زهٔ اول خبر وے چې زما پلار یې نو سرتیټے بهٔ ستا خوا ته راغلے وم پهٔ ښو بهٔ مې درته لار جارو کړې وه خپل تن بهٔ مې لهٔ تاسو نه قربان کړے ؤ کاشکې زهٔ د مینې سیند وړے نهٔ وے زما فکر پهٔ ځائے وے ګمان لرم چې لهٔ تاسو نه اول را

باندې څلې جوړ شي ستاسو حکم نه په هیڅ رنګ انکار نه شم کولې یه زما پلاره وایه چې څه وایې زه به خپل یاد بیا ورستو تازه کړم دواړه د ملنګ په ډېره روان شول داسې لګېده چې ایا مجنون سم شو کله چې دوئ ملنګ ته اورسېدل ملنګ زر مجنون په غېږ کښې اونیسو څو څو واره یې ښکل کړو پلار ورته حېران او بې دمه ولاړ ؤ د مجنون غم ور باندې ډېر زیات ؤ مجنون ملنګ ته خپله قیصه شروع کوي یه قدرمنده مشره له تاسو نه زار شم ما ته زما دا پلار محترم وایي چې له یار ځنې قلارم شه چرته داسې هم شوي دا کوم مذهب او لوظ کېدلې شي د یار نه صبرېدل خو ډېره د بې ننګۍ خبره ده قدرمنده داسې دعا راته د زړه د اخلاصه اوکړه چې زه کله هم د یار د مینې نه په شا نه شم تر هغې پورې څو چې زه مړ نه یم زه او یار به په اخرت کښې سره ضرور یو کېږو کله چې مېدان حشر قایم شي او زه په بد حال د یار په پت کښې را اوچت کړے شم نو ډېر به خوشحال یم ما نه به الله زما د یار پوښتنه کوي پلار یې د مجنون نه لاس واخستل هائ زما ځوے خو پاګل شو د یار مینې نه په هیڅ رنګ نه ځرخیږي بې مرامه را واپس شو د غمونو چرک پرې را ګزار شو ځان سره به وئیل چې مجنون نور اوس مړ ګڼم

یوه ورځ به پرې لېوان ګېډې ډکې کړې لنډه دا چې

نور بۀ تري نه زړۀ صبر کړم نن نه پست بۀ يې بيا څارنه نۀ کوم چې د سحر رڼا خوره شوه ګړده نړۍ بيا پۀ شور سره مخ شوه ولې چې سردار ابن الاسلام خپل ځوي ته د لېلیٰ غوښتنې د پاره راغلے ؤ ښکلي ښکلي خلق پۀ زرګونو غلامان ورسره پۀ خدمت کښې حاضر وو چې پۀ هاتيانو يې د سرو زرو بارونه ترلي وو نورې بلها د ملغرو خزانې ورسره ډېرې تېرې وې يو استاځے يې د لېلیٰ پلار ته اولېږلو وراغلو د لېلیٰ پلار يې پۀ منډه راوستو ډېر پۀ ادب راغلو سلام يې واچولو ډېر پۀ عزت سره ورته د کښېناستو اووئيلے شو کښېناستلو لېلیٰ پلار ورته ډېرې دعاګانې اوکړلې بيا يې سردار ابن الاسلام ته اووئيل تاسو څنګه راغلي يئ؟ ابن الاسلام هم ورته ګويان شو چې ستاسو پۀ کور کښې يو ښکلې پېغله لور ده

چې پۀ ښو خويونو پوره ده زۀ يې لۀ خلقو څنې صفتونه اورم د ښايست مثال يې پۀ ګرد عرب کښې نشته ځکه خو مجنون ورپسې د ځنګلو لېونے شو زۀ غواړم چې کۀ تاسو د خپلې لور نکاح زما ځوي سره اوکړئ زۀ بۀ پۀ غونډو خپلوانو کښې غاړه هسکه شم بل بۀ تاسو سره زمونږ رشته جوړه شي خپل بۀ شو د لېلیٰ پلار ورته ښه اوکړل او د وادۀ سامان برابر شو د اسمان تلې او ستورې پۀ ګډا اوچمکېدل لېلیٰ د ډېره غمه وار خطا سر وهلي بر وهلي ناسته وه پۀ پښو

کښېږي يې د غم ځولنې وې کله چې ډمګۍ لېلیٰ ته اوربل جوړلو نو د لېلیٰ زړۀ نور هم پۀ رپ رپې شو او لۀ تاوه غوځ غوځ شو ډمګۍ ورته پۀ ملا زلفې خورې ورې کړلې دواړه سترګې يې ورته پۀ رنجو تورې کړلې پۀ زنه يې ورته خال اووهلو پۀ نکريزو يې ورته دواړه لاسونه سرۀ کړل لېلیٰ لۀ غمه ډېر فرياد شروع کړو وئيل يې يۀ ډمګۍ زما نه لرې شه زۀ خو د خپل يار پۀ غم ککړه يم زما زړۀ خو د مجنون پۀ مينه چورلي ته ما ته څۀ د پاره اوربل سموې لرې ګنې لاړې پۀ وهلو وهلو بۀ دې زرې زرې کړم پوهه شه ګورے زما او ستا خپل کښې جنګ راځي

ډمګۍ زر د لېلیٰ مور پسې لاړه چې يۀ مېرمنې ستا لور خو زما مرګ ته خړه کړې هغه خو د يو بل چا پۀ مينه کښې بندي ده زۀ خو ور څخه نزدې نۀ شم تللے کۀ زۀ ورته سمه خبره کوم نو دا څۀ نور څۀ وايي داسې خو ما څوک نۀ ده ليدلې لکه لېلیٰ چې ده کۀ تاسو ته څۀ چل درځي راځئ ګنې نو زۀ خو يواځې لېلیٰ خوا ته نۀ ورځم خپلې لور نه د ښو طمع مۀ ساتئ د لېلیٰ مور چې راغله نو دواړه سترګې يې سرې وې ژړل يې يۀ لورې دا پۀ تا څۀ اوشول تۀ خو پۀ خپل عزت نۀ رسې پۀ دې کم عقلو خبرو خو بۀ تا تهمت پورې شي د پلار پټکے بۀ دې د سر نه اوغورځيږي

لیلیٰ مور ته اووئیل پاسه د الله روئے اومنه زۀ د مجنون مېنې نه هېڅ کله مخ نۀ شم اړولے زۀ پۀ بیابان خوښه یم ولې چې هلته زما لېونے مجنون ژوند تېروي زۀ بۀ ځان ګورے مړ کړم بس دې مورې ما پۀ قلار پرېږده ګنې نو بیا بۀ را پسې ژاړې هېڅ بۀ نۀ وي مور یې چې خبر شوه چې لیلیٰ خو پۀ خپله مینه کښې کامله ده زما خبره پرې د سره نۀ لګي زر یې ورته ځولۍ اوغوړوله چې یۀ لورې تۀ څۀ خبر یې چې مور پلار څومره حق لري کۀ تا ته بل خاوند کول دوزخ دے نو دغه دوزخ زما د پاره قبول کړه زۀ درته منت کوم غلې شه چې نور د خلقو د خندا نۀ شو تۀ زما دا منت قبول کړه الله بۀ ستا عزت اوساتي لیلیٰ خپلې مور ته غاړه کېښوده ډولۍ ته اوخته لاړه د بل کور مېلمنه شوه

لیلیٰ بۀ د خاوند کور کښې داسې ناسته وه لکه چې څوک روغ مهے د اوبو نه را بهر کړي ټول خلق دستې خپلو خپلو کورونو ته لاړل لیلیٰ ځان سره پۀ پالنګ ډېر ژړل خاوند هم ورڅخه راغلو چې لیلیٰ ورته ډېره قهر شوه واوره ګورے چې ما پورې دې ناپاکې ګوتې او نۀ لګي صبا بۀ افسوس کوې لرې شه ګنې نو غلبېل کوم دې تۀ کۀ ما نه څۀ طمع لرې بې ځایه ده باقي زۀ ستا هر قسمه خدمت ته تیاره یم سر پۀ سترګو بۀ یې کوم خو زما کوژدن لۀ تا نه اول مجنون سره

شوي ده زۀ پۀ نورو خلقو حرامه یم زۀ خو مجنون ته پۀ خوا وادۀ شوي یم چې حرام او نۀ کړې زما عزت هم اوساته خپل هم

د لیلیٰ خاوند چې پوهه شو نو ځان ته ډېر قهر شو زر یې لیلیٰ ته طلاق ورکړو د لیلیٰ ژوند بۀ د مجنون پۀ تش اواز تېرېدو بل سره یې مینه کول نه غوښتل کۀ څوک د مجنون پۀ شان خپله مینه کښې رښتونې شي مجال شته چې معشوقه یې د خپل زړۀ نه اوباسي څوک چې پۀ مینه کښې لۀ سره تېر نۀ شي نو د یار مخ لیدل څۀ ټوقې نۀ دي وئیلے کیږي چې پۀ دغه زمانه کښې پۀ دغه ځائے یوه ډېره بد چلنده ښځه اوسېده چې زۀ بۀ درته د هغې ښځې بد خویونه نۀ پۀ ګوته کوم پۀ منډه لاړه ډېره اوګرځېده را اوګرځېده اخر یې مجنون بیا موندو چې د واره یې پرې د غم زېرے اوکړو چې یۀ مجنونه تۀ څۀ خبر یې ستا هغه مینه خو بل ته وادۀ شوه مېلمنه شوه

مجنون ناڅاپي چغه کړه دنیا پرې تنګه شوه قیامت پرې جوړ شو پۀ ځنګون یې سر کښېود ځان یې ټکولو چې پۀ هوش کښې راغلو ځان سره یې د بېلتون یو څو خبرې اوکړې بیا یې پۀ کاغذ د سلام نه پست خپل سوز اولیکلو چې هائ ارمان افسوس نن بخت پۀ ما کومې کانې اوکړې چې ما ته د یار د بېلتون بوئ راوړي زۀ د خلقو نه پۀ ډډه خوښ یم د

بېلتون سخت غم پۀ غار د ننه کړم زۀ څۀ خبر وم چې يار بـۀ پـۀ ما تېر يخ کړي د غم پۀ تېرو غشو يې غلبېل کړم ما خو ترې د ديـدن طمـع لرلـه خبـر نـۀ وم چـې د ژمـي لنـډه ورځ پـۀ منـډه درومي ما وې ما ته بۀ يارہ !تۀ ديدن راوړې تـا خـو پـۀ بېلتـون زما زړۀ کنډ کپر کړو زۀ کۀ هر څو د غرونو لېونے يم خو ستا پۀ مينه کښې صادق يم ما ګڼل چې ستا مينه بـۀ ماسره زياتـه وي خو تۀ زما پۀ مينه کښې غداره اوختې دغه کاغـذ يـې دې مکارې ښځې ته ورکړو چې دا لېلیٰ ته ورکړه

لېلیٰ چې د مجنون پۀ ټولـو خبـرو پوهـه شـوه نـو پـۀ ژړا ژړا يـې دواړه سـترګې سرې شـوې د بېلتـون اوښـکې يـې نـۀ قلارېدې لېلیٰ هم ورته يو کاغـذ څـۀ پـۀ داسې رنګ اولېږلـو چې يۀ زمـا خـوار مجنونـه زۀ بـې وفـا نـۀ يـم زمـا تـن دې تـا نـه بغېر پۀ بل چا حرام وي د مور پلار پټکے مې د سره اړتـاو کـړو څۀ کۀ ماته پـۀ زرګونـو خلق پېغورونـه راکـوي زۀ خـو لـۀ تـا نـه ډېره پۀ تا پسې بد حاله يـم سـتا پـۀ بېلتـون کښـې زمـا سـکون نشتـه مونږ خو چې هغه د يو بل نه پۀ مدرسه کښې جدا شوي يو نو شپه او ورځ د واويلا سره مخ يم زۀ درنه ګيلـه نـۀ کـړم او ته ګيله کوې تۀ کۀ چرته زما پۀ شـان کـور کښـې بنديوان شـې بيا بۀ درته پته اولګي زۀ روزانه رب نه دا دعا کوم چې خدايه ما واخلې يـا مـې د مجنـون د غـاړې هـار کـړه زۀ پـۀ خپـل کـور

کښې لکه د غلې اوسم اوس ته پۀ خپله انصاف اوکړه چې ایا زما وېنا سمه ده کنه تۀ بۀ خپل ځان پۀ خپله ملامت کړې بیا بۀ پۀ دې رنګ ګېلو زما ځیګر نۀ سوځوې زۀ کۀ پۀ دنیا کښې پایم ستا د راتلو پۀ امید پایم ساه مې ښکته بره کیږي وایم اوس بۀ راشي اوس بۀ راشي ګنې نو زۀ خو پۀ مړو حساب یم

دغه خبرې لیلیٰ پۀ خپلو ګلورینو ګوتو اولیکلې او مجنون ته یې د یو چا پۀ ذریعه اولېږلې مجنون چې پۀ کاغذ لیکلے خط اولیدو پۀ خندا خندا زر را پاسېدو ځان یې اوځنډو تا بۀ وې چې لکه پۀ جنت کښې دے د لیلیٰ د لاسو خط یې ښکل کړو اخر خط د چا ؤ د خپل جانان پۀ خط ډېر خوشحال شو

یوه ورځ د مجنون یاران راغونډ شول چې د مجنون سره مېلاو شي ولې چې د یارانو دیدن د سپرلي نه کم نۀ وي ښۀ وختونه ښۀ یادونه سراسر ګلونه وروي یارانو چې لۀ ډېرو ستونزو نه پست خوار مجنون بیاموند ډېر خفه شول ورته یې اووئیل چې تۀ مونږ سره نۀ وې نو زمونږ واړه سېلونه هسې او نیمګړي دي مجنون چې خپل یاران اولیدل زر یې خپل سر د خاورو نه را اوچت کړو خپلو خوږو یارانو سره غاړه غټې شو

د هر يو يار نه ګوښے ګوښے زار شو ډېر د خفګان پۀ چغـو سر شو دا خبره يې اوکړه کاشکې زۀ اول خبر وے چې ستا خوا ته دې يـاران را روان دي مـا بـۀ درتـه پـۀ ښـو لار جـارو کـړي وه ستاسو خدمت کښـې بـۀ اول حاضر وم تاسـو نـه زمـا هـر څـۀ قربان پۀ غم کښې مو خوشحال کړم ډېره ښـه شـوه چې زمـا د پښتنې هم ځوک شـته پـۀ الله ګران شـئ کاشـکې هغـه سـپرلي خيز وختونه واپس کېدلے شـوے چې ستاسـو غونـدې يـارانو څنګ کښې ناست وے تاسو سره مې خبرې اترې کـولې او د لېلیٰ سره مې هم پۀ رموز کښې پټ ديـدن کېـدلو نصـيب مـې نۀ دے چې پۀ ښکلو مئين يم خو د هجر پۀ سـودا کښـې مـې ژوند تېرېږي زۀ کۀ ژونـدے يم د لېلیٰ پۀ ښکلي نـوم پـايم چې خلق يې ما پورې يادوي ارمان چې زۀ لـۀ يـارانو او يـاران زمـا نـه بئيـل نـۀ وو پـۀ مـا خـو هسـې د لېلـیٰ غـم انبـار دے ظـالم ببلتون را ځنې خپل پردي هېر کړي خبر دې کښې بۀ خبر وي زما پۀ لاس کۀ د سکندر اعظم بادشاهي هم راشي بيـا بـۀ هـم زما نه د خپل يار غم لرې نـۀ کـړي مـا تـه هغـه تـور خـال تـورې زلفې ښکلے مخ يادېږي د مينې پۀ خبرو يـې ځـان ښـۀ سـتړے کـړو اپوتـه پـۀ زمکـه را پرېوتـو يـارانو ورتـه غـږ کـړو چـې يـۀ مجنونه ستا واړه دښمنان دې الله پاک د خاورو لانـدې کـړي د الله روئ اومنه چې مونږ سره روان شه دغه ټول خوشې کارونـه نور پرېدوه ټول خلق در پورې خاندي رنګ پۀ رنـګ خبرې در

پسې جوړوي يۀ وروره معشوقې غونډې بې وفا دي تا ته بۀ
وايي چې زۀ ستا يم پۀ مينځ کښې بۀ يې د بل چا سره لاړ وي
مور پلار در پسې د خوده اووتل تۀ ولې پۀ هغوئ ترس نۀ
کوې؟ پۀ تا پسې پۀ لپو لپو اوښکې تويوي سترې ستومان
شول هائ قيس وائ قيس بس د ے لږ نادم شه دغه کارونه
ستا جامې سره نۀ ښايي مونږ هم لۀ ندامت نه چا سره سترګې
نۀ شو لګولے پۀ لمبو دې اوسوځوو بس کړه را پاسه چې ځو
بهانه مۀ جوړوه مونږ سره پخه وعده اوکړه چې بيا بۀ دغه
خوښې کارونه نۀ کوم ځان پۀ سړيو کښې شمار کړه

مجنون چې د يارانو خبرې واورېدې نو د سترګو نه
يې اوښکې روانې شوې ټول ګرېوان يې پرې خړوب شو
مجنون دوئ ته اوئيل چې چا د مينې سبق زده کړو نو زما پۀ
ځېر بۀ پرې خوراک، څښاک او خوب حرام شي زما پۀ ځېر بۀ
د غرونو لېونے شي چرته ملا کۀ د مينې مسئلو نه خبر شي
بس صرف د مينې موضوع لاندې بۀ خپلې وېناوې کوي تاسو
خبر يئ چې د مينې قيصو ته مؤذن بانګ پرېږدي چرته کۀ د
اولس مشر د مينې سندره واورې نو خپله توره دره پۀ زمکه
راخلاصه کړي حکومت بۀ د لاسه ورکړي چرته کۀ د مفتيانو
حلق ته د مينې معمولي نوړۍ لاړه شي مينه بۀ فرض
اوګرځوي رنګ پۀ رنګ بۀ د مينې فتوې جاري کړي د مينې

پۀ شتون تېر وختونه د سره هېرېږي قاضي لۀ دې قيصو ځۀ خبر دے ګنې نو خپله قضا بۀ د لاسه ورکړي چرته کۀ د مينې مدرسه کښې يو شېخ داخل کړے شي نو خپله شيخي بۀ ور ځنې هېره شي عبادت کوونکي هسې ځان سره محاسبې کوي هغوئ د مينې خوند نه ځۀ خبر دي زما زړۀ کښې خو د مينې بوټے زرغون شوے دے فرښتو زما پۀ خاوره کښې مينه اغږلي ده ما د مور پيو کښې مينه رودلې ده زۀ د مينې پۀ ورښي کښې تړلے شوے يم زۀ د مينې پۀ ځانګو کښې ځنګېدلے يم ما د دين سيپارې پۀ ځائے د مخ سيپاره لوستې ده

يارانو چې د مجنون عجيبه بيان واورېدو نو بند ورځنې هېر شو ناکامه راستون شول ټولو اووئيل چې دے لېونے نۀ دے ښۀ هوښيار دے د لېلیٰ د مينې پۀ ځنځير تړلے شوے، دے کۀ چرته خپل يار سره واصل شي نو غونډ لېونتوب بۀ ترې لاړ شي سم دم بۀ شي بيا داسې سپورې وېناوې نۀ کوي غرض ټولو يارانو ترې اميد ختم شو ګنې مجنون يې يواځې کله پرېښودو ځوک چې ښکلو ته زړونه ورکوي نو د مجنون غونډې بۀ لېوني شي د غمونو سره بۀ مخ شي روغ ځان لېونے کول د کمال خبره ده خځنے اکثر پۀ وور سوځي د هجر بادونه پۀ هر لور الوت کوي د عاشقانو زړونه يې تالاترهه کړل

یوه ورځ مجنون خپل مخ ته د خیال ښیښه اونیوله ټول حالات یې ځان ته برڅېره کېښودل د درد اوښکې یې قطار شوې رنګ کښې یې سکون نۀ ؤ د افسوز پۀ چغو سر ؤ دغه اواز بۀ کوو چې کاشکې زما یار زما د حاله خبر وے شپه ډېره اوږده شوه د سحر خو پکښې بیخي درک نۀ لګي او کنه زما د ژوند ډېوه پۀ مره کېدو ده نۀ پوهېږم چې دا شپه ولې د زرګونو کالو برابر شوه (شپه اصل کښې پۀ مجنون نۀ تېرېده) کېدلے شي چې اوس عزرائیل علیه السلام زما خواله راشي روح رانه واخلي یۀ ربه دا د غم ډکه شپه بۀ کله سحر ته وځي تۀ خو پۀ خپل فضل سره صبا کړې چې پۀ چمن کښې د بلبلو چغار واورم کېدلے شي چې یار زما پۀ بد حال رحم اوکړي ما نه زما د لېونتوب وجه اوپوښتي چې لړ قرار شم دغه غمونو، سوچونو مجنون کلک نیولے ؤ خوار ملنګ سر پۀ ځنګون اېښے ؤ سترګې یې پټې کړي وې زړۀ یې ویښ ؤ

ناڅاپه ورته لیلیٰ پۀ خوب کښې راغله چې پۀ سپین رخسار یې تورې زلفې ځنګېدلې پۀ لاس کښې یې ګل نیولے ؤ مجنون ته یې د ډالۍ پۀ توګه ورکړو بیا یې د مینې نه ډکې وړې وړې خبرې اوکړې دې کښې مجنون لۀ خوب نه بېدار شو ډېر یې ګېر چاپېره اوکتل خو لیلیٰ هڅو پۀ نظر رانغله د ګل غنچه یې پۀ لاسو کښې پاتې ده هک پک دے یا ربه دا

څـهٔ نـا زیبـا کـار اوشـو جانـان پـهٔ خپلـه پـټ شـو او ګـل یـې پرېښودو یا ربه زما حوره دې بیا ما نه جدا کړه تهٔ یې د جنت حورې خادمانې کړې زهٔ خپل یار تـه روح هـم بخښـم کـهٔ چرې طمع اولري ورتـه بـهٔ ورکـړم د مینـې نـه بغېر راسره نـور هـېڅ نشـته کـهٔ یـار زمـا مینـه هـم نهٔ مني بیـا هـېڅ نهٔ شم کـولے پـهٔ مجنون بیابان لکـه جنت ؤ ولـې یـار ورتـه ګـل ورکـړے ؤ ډېر زیـات خوشـحال ؤ پـهٔ خونـد خونـد ګرځـېدو معشـوقه چـې د عاشـق نـه قربـانېږي مجـال شـته چـې عـاشـق تـرې د خپـل روح انکار اوکړي بلکې صدقه کوي یې ترې کـهٔ مجنـون کـم عقـل ایرو ته لاس ښـکته کـړي نـو زر تـرې نـه جوړ شـي د الله رحـم د سېورې لاندې ژوند کوي واړه دښمنان ورته ښکته دي د سحر باد لګېدل وو چې لهٔ هېبته ماښام شو مجنون پهٔ شپه کښې د لېلیٰ د دیدن نیت اوکړو روان شو ما کهٔ چرته لېلیٰ اولیدله نو خپـل ګرېـوان بـهٔ ورتـه ریښـې ریښـې کـړم د الله د او د الله د رسول روئے بهٔ ورته واچوم چې پـهٔ مـا یـې تـرس راشـي سـتا لـهٔ غمه زهٔ پهٔ نشت حساب یم کهٔ تهٔ ما چرې خپـل سپے اوګڼې زما ژړا بهٔ ختمه شي چرته کهٔ مې د ستا تورې زلفې پهٔ لاس راشـي زمـا لېونتوب بهٔ پهٔ هوښیارتوب بـدل شـي مجنـون د خپـل یـار پهٔ لور وهلے نتلے روان ؤ د کلي ماشومانو پـهٔ کـاڼو ویشـتلو د خپل یار دروازې ته اورسېدو

لیلیٰ هم چا خبر کړي وه چې مجنون په کوڅه کښې ولاړ دے زما د دیدن طمع لري پټ یې په تنبوړي سر ښکاره کړو مجنون پرې هم نظر پرېوتو د الله پاک نه یې دعا اوغوښتله یا ربه لهٔ تا نه قربان شم چې زهٔ دې د ښکلي یار پهٔ دیدن موړ کړم ټول تعریفونه تا لره دي قربان ربه چې پهٔ ما دومره لوئ فضل کوې یا ربه تهٔ اول پهٔ خزان ګلونه اریز مریز کړې بلبلان پهٔ چغو سر کړې بیا پرې سپرلے اوټوکوې ګړده نړۍ باغونه کړې معشوقې عاشقان سره جدا کړې بیا یې پهٔ وصل سره پېوست کړې ربه زهٔ ستا ډېر شکر ګذار یم دې کښې بهٔ زما خبر وي بیا یې لیلیٰ ته اوکتل یهٔ زما محبوبې خپل ګل دې واپس واخله دا دې بېګا ما ته پهٔ خوب کښې راکړے چې ما اوس تا ته واپس راوړو لیلیٰ وئیل د سترګو توره ژاړه مه زهٔ خو پهٔ تاپسې لهٔ خوده بهر یم نظر مې هم کم شو تهٔ چې پهٔ ما څومره مئین یې زهٔ د هغې نه پهٔ تا ډېره مئینه یم بله بهٔ زما غوندې صادقه بیا نهٔ مومې زما خوب، خوراک، خښاک او د کور واړه کارونه ما نه پاتې دي ستا غمونو نیمه نهٔ یم پریښې مجنون وئیل هسې ما سوځوې تهٔ مدام خوشحاله وې لیلیٰ ورته اووئیل مجنونه واک اختیار د بل دے زهٔ خواره بهٔ کومه چاره اوکړم دا ده چې بل چا ته ښه نهٔ کوم زهٔ بهٔ هېڅکله پهٔ خپلې خوښې وادهٔ او نهٔ کړم کهٔ څوک مې رضا کوي هغه سپک کړم

پۀ خبرو خبرو کښې رقیب د چرته نه راغلو چې تېره توره ورسره پۀ لاس کښې وه زر يې پۀ مجنون راخلاصولو ته هڅه اوکړه د الله کارونو ته ګوره چې تورزن نه توره پرېوته زر يې راپورته کړه بل ګزار ته يې هڅه اوکړه چې د رب پۀ فضل توره اسمان کښې اونښته رقیب پۀ غم کښې راګېر او حېران پاتې شو یا ربه دا پۀ ما څۀ اوشول چې لاس مې پۀ هوا کښې سره د تورې پاس اونښتل زۀ څۀ خبر وم چې د عاشقانو خبرې لګي یا ربه زما ګناه ما ته معاف کړې زر يې مجنون نه معافي اوغوښته سر يې ورته پښو کښې ټيټ کېښودو او وئیل يې مجنونه ما نه خطا اوشوه زۀ پۀ خپلو بدو شرمنده یم مجنون اووئیل د عاشقانو ازار خو سور انګار وي د ډېرو خلقو کورونه ورانوي کۀ امن غواړې نو هېڅ کله د عاشقانو ازار مۀ اخله مجنون د الله درګاه کښې لاسونه اوچت کړل چې یا رحيمه ربه تۀ اوس د د لاس پۀ خپل حال کړې سوال قبول شو پۀ مجنون کور کلے خبر شو بیا يې د بیابان پۀ لور مخه اوکړه لېلیٰ پۀ کور کښې پۀ غم ککړه بند پاتې شوه مجنون کله غوښتل چې د غم ډک زړۀ بیابان ته لاړ شي مجنون او د لېلیٰ تر مینځه بیا د هجر غر جوړ شو خدایه پۀ هېڅا د مئینو دیدنونه بند مۀ کړې څوک چې د مینې پۀ مرض اخته شي نو دغه مرض نه بۀ د لقمان حکیم صېب پۀ دارو هم روغ نۀ شي هسې وئیلے کیږي چې د مجنون نخښه سمه اولګېده

د سوچونو په دنیا یې قیامت راغلو خندان شو په دغه ځائے د نوفل نومې یو بادشاه پېښنه اوشوه چې ډېر نېک عمله خوش اخلاق یادېدو داسې ښکارېدو چې د هما نومې مارغه سېوره پرې شوي وه عوام و خواص ترې نه ډېر خوشحال وو په ښکار پسې وتلے ؤ سواره او پله سپاهیان ورسره وو بازونه، ښکاري سپي، د سپېو غاړو کښې پړي او د سرو ځنځیران څه ډېر خوندور وو د استاذانو عقلونو او وربانډې کړو کمالونو به حېران کړے وې که د بازونو د پښو ګنګروګانو نرخ درته وایم نو د خراج السلطنت ذکر به دې هېر شي د پاس نه د بازونو حملې د ښکته نه د سپېو حملې څه ډېرې عجیبه وې په لږ وخت کښې به یې غونډې جاړې په ښکار لت پت کړې د بازونو او سپېو دې عمل به په یو دم د مرغېو چارپایانو پښې او ملاګانې ماتې کړې په بازونو یې نور په زړګونو بازونه اونیول په ښکار کولو کولو ښکاریان ستړي شول غرض د نجد غر ته ور نزدې شول د ښکاریانو د او د ښکاري سپېو ورپسې اوږد لښکر روان ؤ اسمان د بازونو نه ډک ؤ د مرغېو چارپایانو چڼ ختل د سپېو تندي اوچست والے څه په بل ډول ؤ د تنذرې اولوتل د پاس نه بازونو وار خطا کول هم څه د کمال نه خالي نهٔ وو که چرته به پړانګ رابښکاره شو نو د غړمب سره سم به ترې ښکاریانو سر الوځولے ؤ

ناڅاپه خوار مجنون د چرته نه راغلو د نوفل بادشاه پرې نظر شو سپاهيانو ورته اووئيل چې يۀ بادشاه سلامت دا هغه مجنون دے چې د لېلیٰ مينه کښې يې ځان په مړو شمېرلے د لېلیٰ مينې او تهمت د لاسه دلته راغلے ګنې دې خوشي بيابان نه خو ځناور هم امن غواړي د يار غمونو ورته زړۀ غلبېل کړو د هجر پۀ سور وور لګيا دے جليا کېږي نوفل پۀ زړۀ کښې مينه هم وه د لېلیٰ سترګې يې ليدلي وې نوفل بادشاه زر مجنون ته اواز اوکړو چې يۀ لېونے مجنونه لږ زما خوا ته راشه چې د ځان سره دې بوځم لېلیٰ بۀ درته وادۀ کړم زړۀ بۀ دې خوشحال شي ښۀ پۀ پښتو بۀ يې درته راولم ستا زړۀ بۀ پرې ټکور شي نن خو درنه دا دعا ضرور اخلم مجنون ورته د عزت او سر لوړی د دښمن نه د نجات غوښتلو ډېرې دعاګانې اوکړې الله دې خوشحال لره چې زما پۀ غم غمژن شوې يۀ بادشاه سلامت زما نصيب خراب دے ما اخپل نصيب کتلے زۀ د ديدن طمع هډو لرم نه زۀ د مينې پۀ جېلخانه کښې بند يم د هجر پۀ وور لګيا يم ستي کېږم د جوارو وريته نښه بۀ هم ما نه کم تاو خوري وريت يم د نوفل غوښتنه وه چې خا مخا ځو ان شاء الله د يار پۀ ديدن بۀ موړ شي د سرې ډولۍ ارمان بۀ دې پوره شي خبر ستا د پاره بۀ الله دغه کار ممکن کړي مجنون نوفل سره پۀ راتلو راضي شو د يار د وصل طمع يې سېوا شوه نوفل بادشاه چې خپلې

د پرې ته نژدې شو

درې مشـران يـې را اوغوښـتل د لېلـیٰ کـور تـه يـې واستول دا يې ورته هم اووئيل چې د لېلیٰ پلار ته وايئ چې د باشاه حکم دے مونږ د هغـۀ رقعـه تاسو تـه راوړي هغـه وايـي زمـا در کښـې مجنـون ناسـت دے چـې د لېلـیٰ د ښـکلي مـخ ليـدلو پـۀ زړۀ غـټ ارمـان لـري لېلـیٰ ورتـه ورکـړه زمـا خبـره منظوره کړه ګنې نو بيا د خپل سر خبر غواړه لېلیٰ بۀ درنه پۀ زور لاس نيولي مجنون ته ورکړم خپل لښکر بۀ درنه تـاو کـړم د لېلـیٰ پـۀ قبيلـه کښـې هـم د لېلـیٰ پـلار سـردار ؤ چـې عـامر نومېدو چې خپل ټول قوم يـې د حکـم لانـدې ؤ چـې چـې رقعـه يې اولوسته قاصد يې را اوغوښتو ورته يې اووئيل واپس لاړ شه خپل بادشـاه تـه درسره زمـا دا رقعـه ورکـړه چـې عبث مـۀ لګيا اوسه تۀ مونږ نه ښځه نـۀ شـې بـوتللے لـويي مـۀ کـوه دغـه لويي بۀ دې پۀ سر کښې ماتـه شـي د خپـل رب تابعـداري کـوه لېونو سره کورونه نۀ کيږي روزانه يې ماشومان سنګسـاروي ستا زور نۀ چلي هسې ځان هم مۀ ملامته کوه پـۀ مـونږ خـوارو چرت مۀ خرابوه صبر بۀ درته ډېر ښۀ وي الله بۀ اجر درکړي کۀ تۀ جنګ کوې نو مونږ هم تيار يو تر هغې پورې بۀ پښـا نـۀ شـو څو پورې چې لار بيا نۀ مومو يو بل بۀ هسې مات ګوډ کړو خو د لېلیٰ زلفې بۀ را نه نۀ وينې قاصد دغـه ټولې ليکلي خبرې ځـان سـره کـړې سراسـر پـۀ مقصـد پوهـه شـو ناکامـه د نوفـل

بادشاه خدمت کښې حاضر شو د لېلیٰ د پلار خط يې ورته ورکړو پۀ نوفل بادشاه باندې ډېر تاو تېر شو خپل لښکر ته يې حکم اوکړو چې صبا ته د جنګ سامان او سورلۍ تيارې ساتئ

چې سحر شو نوفل بادشاه پۀ اس سور شو تير انداز سپاهيان يې د ځان نه ګېر چاپېره خوارۀ کړل د جنګ سامانونه يې ځان سره واخستل لکه د غرونو هاتيانو پۀ شان پۀ زرګونو خلق روان وو لۀ دواړو ډډو نه يومخيز جنګ اولګېدو د وينو سېلابونه بهېدل ټول پۀ وينو سرۀ پرۀ شول

مجنون پۀ دې کار هېڅ کله خوشحال نۀ ؤ بادشاه خپل غرض لرلو د لېلیٰ قبيله اوتښتېده خوره وره شوه پۀ زرګونو مړي پۀ دواړو ډډو پراته ؤ نوفل بادشاه لېلیٰ تر لاسه کړه نوفل چې لېلیٰ اوليده نو پۀ زړۀ کښې ورته غل شو ځان سره يې اووئيل واقعي چې ګل دے ګل !د خپل ښايست ثاني نۀ لري هېڅ نۀ پوهېږم چې نمر دے کۀ سپوږمۍ ده يا ربه اوس مې دا زړۀ روغ کړې ما د لېلیٰ پۀ ديدن موړ کړې

نوفل د مجنون د مړکېدلو بند اوتړو کۀ مجنون ژوندے وي خو سراسر جنګ دے ښه بۀ دا وي چې دے د

مینځه اوباسم هله بهٔ د لېلیٰ د مینې پهٔ خوند پوهه شم لېلیٰ بهٔ زما شي د زړهٔ مراد بهٔ مې پوره شي

زر یې ساقي را اوغوښو زما خبره واوره پهٔ شربت کښې زهر ګډ کړه بیا یې د ټولو خلقو پهٔ مخکښې ماته راکړه نو زهٔ بهٔ دغه شربت مجنون ته ورکړم مجنون بهٔ مړ شي لېلیٰ بهٔ ما ته پاتې شي ساقي راغلو بادشاه سلامت ته یې شربت ورکړو بادشاه سلامت زر پیاله خولې ته اوچته کړه غونډه یې پهٔ یوځل سره اوڅښله د زهرو خبره ترې نه بیخي هېره وه پهٔ زمکه اپوټه را پرېوتو هغه دم مړ شو پهٔ دربار کښې شور غوغا شوه

د لېلیٰ پلار چا خبر کړو پهٔ منډه راغلو او خپله لور یې د ځان سره کور پهٔ طرف روانه کړه خوار مجنون بیا د بیابان پهٔ طرف ستون شو لېلیٰ چې یې څهٔ وخت واپس راوستله نو نمر پرېوتے ؤ پهٔ ګرد اسمان کښې ستوري ځلېدل تکه توره شپه وه لېلیٰ یې د اوښ پهٔ کیجاوې کښې کور ته راوستله د قسمت کارونو ته ګوره چې دا د کاروان نه پاتې شوه سخت خوب پرې غلبه اوکړه خوب وراغے د اوښ کېزه یې د لاسو نه خلاصه شوه چې ویښه شوه نو بیابان ته یې بیا منډه کړه تلله تلله یو خوشے ځائے ورته پهٔ نظر وراغے ځان سره یې اووئیل یا خدایه دا څهٔ دي دا کوم ځائے دے چرته د لېوانو خوراک نهٔ

شم زما غوښې او هډونه تس نس نۀ کړي

ناڅاپي يي يو سړے اوليدو چې دې طرف ته راروان ؤ دا ترې نه ډېره اويرېده لېلىٰ پرې زر اواز اوکړو يۀ څوانه تۀ څوک يې؟ او دلته څۀ کوې !دلته پۀ څۀ پسې راغلے يې د ورته اووئيل زما نوم قېس دے پۀ مجنون ياد ېږم د لېلىٰ مينې دلته راوستے يم د لېلىٰ د مينې وور کښې سوځم بېلتون راته ټول وجود تک تور کړو دلته يواځې ګرځم پۀ صحرا خوښ يم لېلىٰ راسره ډېر بد کوي لېلىٰ چې د مجنون نوم واورېدو نو سر پرې اوګرځېدو پرېوته سر يې پۀ ځنګون کېښودو ورته يې اووئيل زۀ هغه لېلىٰ يم ستا د لاسه پۀ ما هم د هجر وور بليږي اوس ځان ښۀ پۀ ديدن موړ کړه چې واړه غمونه درنه هېر شي مجنون چې د لېلىٰ نوم واورېدو نو را پرېوتو غمونو ورته زړۀ ډېر کمزورے کړے ؤ دواړه سترګې يې پۀ ژړا ژړا سرې شوې پۀ ګرېوان يې د اوښکو خوړونه اوبهېدل لېلىٰ ترې نه سر پۀ ځنګون کېښودو ډېره مينه يې ور باندې اوکړه دغه اواز بۀ يې کوو چې يه جانانه سترګې را واړوه ستا لېلىٰ يم ستا پۀ خدمت کښې حاضره يم تۀ چې ماسره خبرې اترې نۀ کړې ماته ډېر تکليف رسوې پۀ خپلو زلفو يې ترې ټولې دوړې څنډې وهلې مجنون اووئيل افرين ستا پۀ خدمت زما سترګې دې هسکې کړې

زړۀ مې کباب کباب د ے تا ته بۀ روغ رمتۀ ښکارم تۀ خو کور کښې پۀ ارام ناسته وې ما روزانه ماشومان سنګساروي زۀ کۀ چرته ستا د کوڅې سپے وم نو څومره بۀ ښه وه چې تا پۀ توتو را بلم او زۀ را تلم لېلیٰ وئیل یه هوښیار سړیه تۀ څۀ خبر یې چې زۀ د الله نه سوالونه کوم چې ما د مجنون نه زار کړې خو تۀ هم پوهه شه کنه چې زۀ خپل واک نۀ لرم

د مور پلار مخکښې بۀ څۀ اوکړم تۀ کۀ پۀ ما مئین یې نو زۀ هم ستا د مینې نه منکره نۀ یم زما دې پۀ الله قسم وي چې ستا پۀ سر خپل سر ورکولو ته تیاره یم زما کۀ چرته خپل اختیار وے نو هم دلته بۀ تاسره پۀ بیابان کښې ګرځېدم څۀ اوکړم د پېغورونو نه هم یرېږم چې مور پلار مې بدنام نۀ شي لېلیٰ خپل اوښ بیاموندو

مجنون یې مهار اونیوو دا پرې د پاسه کښېناسته لکه د کاروان پۀ رو رو تللو لېلیٰ یې تر کوره اورسوله مجنون ترې بیا واپس خپل ځائے بیابان ته راغلو څوک چې د مجنون غوندې پۀ مینه کښې ورک نۀ شي نو کامل عاشق هم نۀ شي کېدلے صد ارمان چې ازل او د مینې رشته یوه وے کاشکې د اسمان څرخېدل نۀ وے نو غمونه بۀ د سره نۀ وو لږ غوندې د دیدن ځلک اووهي بیا پرې د غم بادونه خواره کړي غونډ

مئینان لهٔ دنیا څخه ارماني رخصت کړي خوار بلبلان د غم پهٔ سندرو سر کړي

یوه شپه لېلیٰ مجنون پهٔ خوب کښې مړ اولیدو د ګلو لښته کړه وړه کټ کښې تاو را تاو شوه لهٔ هېبته پرې سره لوي تبه راغله وخت پهٔ وخت یې طبیعت خرابېدو خپلې مور نه یې معافي اوغوښتنه چې یهٔ زما مورې الله دې تا ته د زړهٔ صبر کړي زما عمر نور پهٔ دنیا نشته زهٔ پهٔ هېڅ شان نهٔ رغېږم ما ته معلومه ده چې زهٔ لهٔ تاسو نه زر بېلدونکي یم د مرګ څپېړه بهٔ مې سپین مخ زیړ کړي سر یې تړلے وُ پهٔ زمکه لوغړېدله نرے نروچکے قد ، د څوارلسمې سپوږمۍ پهٔ شان مخ یې لکه د لاړهٔ غونډې نرے شو شونډې یې زیړې شوې ګرد بدن یې وچېدو وئیل یې ارمان چې زهٔ د یار پهٔ دیدن مړه وے خبر کهٔ بیا د هجران پهٔ تبه مړه شم کاشکې زما روح د یار پهٔ پښو کښې وتے وے نور مې پهٔ زړهٔ هېڅ ارمان نشته زهٔ لهٔ خلقو ځینې ډېره خفا یم یهٔ مرګه د الله روئ اومنه چې بیړه مهٔ کوه زما ساه د یار پهٔ غېږ کښې واخله بیا یې خپلې مور ته اوئېل چې زما اخري وصیت دا دے چې زهٔ کله مړه شم نو یار ته مې زر ورشه ورته وایه چې ستا هغه معشوقه ستا د دیدن پهٔ ارمان مړه شوه پهٔ اخري سلګېو کښې هم ستا نوم پهٔ خولهٔ وُ دې خبرې سره ترې روح اووتو غوغا خوره شوه د چم

ګاونډ د کلي غونډې ښځې را اوچلیدلي پهٔ چغو سر شوې چې لېلیٰ مو پهٔ مرګ کله پېرزو وه د سرېو نه هم حجره ډکه شوه کله چې د لېلیٰ جنازه اووتله

خواره مور یې پهٔ ژړلي مجنون پسې لاړه چې د ډېر کړاو نه پست یې بیاموندو د لېلیٰ ربتوني مینې او د مرګ ځرګندونه یې ورته څهٔ پهٔ دې ډول اوکړه چې یهٔ ځویه یهٔ پهٔ غم ککړ لېونیه خوار مجنونه ستا لېلیٰ خاورو ته اوسپارلے شوه ظالم مرګ ور باندې خپله خواه سره کړه ستا د راتلو لار ته یې ډېر اوکتل پهٔ تا پسې غړې سترګې لهٔ دنیا نه لاړه ستا نوم یې بیخي د خولې نه نهٔ وېستو تا بهٔ وې نور څهٔ ورته نهٔ ورتلل یهٔ زما لېونے مجنونه !د بخښنې دعا ورته کوه نوره پهٔ زړهٔ د صبر پټۍ کېږده د مینې پهٔ سور وور هسې کباب کباب یې د هجران سختې دي اوګاللې نن ستا د وصل او امید ډېوه مړه شوه

د لېلیٰ د مرګ خبر سره سمه مجنون حېدرې چغه کړه دا یې اووئېل هایٔ افسوس ارمان مرګ کله هم دوه یاران نهٔ پرېږدي مئین د هجر وور ته اوسپاري پهٔ ژړا چغو یې سر کړې ازل سره یې ځو داسې خبرې اوکړې چې زهٔ دنیا ته راغلے یم تا زهٔ پهٔ سر سر وهلے یم زهٔ کهٔ پهٔ هجران خوښ وم ما د یار د دیدن امید لرو پهٔ ژوندون خو دې ترې لرې غورځولے یم نېغ د

لېلیٰ قبر ته لاړو بيا يې الله ته سوال اوکړو چې يۀ خدايه زما روح د لېلیٰ روح سره سم کړه خدايه تا بۀ پۀ ما غټ احسان وي پۀ مرګ مې ورسره يو کړه د جدايۍ ژړا يې کوه د لېلیٰ پۀ قبر پروت ؤ پۀ ژړا ژړا يې دواړه سترګې سرې وې د مرګ فرښتې راغلې روح يې ترې يوړلو د لېلیٰ د قبر د پاسه مړ شو د لېلیٰ د قبر خوا کښې د مجنون قبر هم ساز کړے شو رښتوني مينه وه ځکه الله پۀ مرګ سره جوړه کړل۔

## پائي